# سندریز احساس


PRESENTED BY
PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

عبدالرحیم روغانی

DISTRIBUTION OR COPYING IS STRICTLY
PROHIBITED WITHOUT WRITTEN PERMISSION
OF
PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

د کتاب ټول حقونه د لیکونکي په حق کښې محفوظ دي


| | | |
|---|---|---|
| د کتاب نوم | ......... | سندریز احساس |
| لیکونکے | ......... | عبدالرحیم روغانے |
| ناشر | ......... | فضل ربي راهي |
| کمپوزنګ | ......... | نادر شاه/سیراج |
| ورمیے خل | ......... | ۲۰۰۹ء |
| شمېر | ......... | یو زر |
| د چاپ ځاې | ......... | ضیاء پرنټرز پېښور |
| بیه | ......... | 200/- روپۍ |

ټائټل: ......... مراد آرټسټ مینګوره سوات

ټائټل خطاطي: ......... بشکریه رشید بټ صاحب اسلام آباد

**درکونه:**

**یونیورسټي بک ایجنسي پېښور**

**سید بک سیلرز حیات مارکیټ مټه (سوات)**

**عثمان بکسلرز زمان مارکیټ مټه (سوات)**

# تړون

پهٔ پښتو ادب مئين زما شاګرد او دوست شېر زاده ساجد صېب چې د سخرې سوات اوسېدونکے دے. د ښهٔ خيالاتو شاعر او نثر نګار دے. زما د دې کتاب د چاپ کولو ټول مشکلات ېې پهٔ خپل سر واخستل. زما سره د هغهٔ د شکريې ادا کولو دپاره هيڅ نشته علاوه د دې نه چې د دې کتاب تړون د شېرزاده ساجد صېب پهٔ نوم اوکړم.

روغانے

# نغمه ګر

زما پیر، زما استاد ښاغلے عبدالرحیم روغانے د پښتو شعر و ادب د مئینانو دپاره اوس څۀ نوے یا نا اشنا نوم نۀ دے. د پښتون خوا په لروبر او عوامو خواصو دواړو کښې یو شان مقبولیت او شهرت لری. بلکې څنې شعرونو خو یې اوس باقاعده د متلونو شکل اختیار کړے دے.

د ستائیلی تخلیق کار "نوې نغمه" هم د هر پښتون د زړۀ د رباب په تار غږیدلې ده او "څوریدلی احساسات" یې هم د ټول پښتون قام په ژوبلو ژوبلو زړونو لکه د پهې لګیدلی دی.

نوموړے د شعر وئیلو په هنر پوره پوره لاس برے لری. د خپل بې کچه تخلیقی قوت، فراخه لوستې، ژورې مشاهدې او شاعرانه مزاج په زور یوې عامې خبرې له دومره عالمانه رنګ او شاعرانه خوند ورکوی چې لوستونکے ورله بې ساخته په داد ورکولو مجبوره شی.

"سندريز احساس" د دې سپېڅلي شاعر دريمه شعري ټولګه ده. لکه د نور کله دا ځل هم دوئ خپل زور، فلسفيانه فکرونه او کوټلي شاعرانه خيالونه پهٔ ډېره هنرمندۍ او شاعرانه چابکدستۍ سندره کړي دي او د "سندريز احساس" پهٔ شکل کښې يې د پښتو د شعر و ادب جولۍ ته يو څونګ نورې اصيلې او رښې ملغلرې وراچولي دي.

پهٔ ډېره مينه

عطاء الله جان (ايډووکېټ)

سيدو شريف، سوات

نېټه: ۱۴ اپرېل ۲۰۰۹ء

# د دې دور شاعر

عبدالرحيم روغانے د دې دور يو نابغه روزګار شاعر دے. د دوئ هر شعر په مزغو براهِ راست اثر اچوی او د اوريدونکی په ذهن د هغې تاثر تر ډېره وخته پورې قائم وی. د دوئ په شاعرئ کښې افاقيت دے او ځکه دې ته مونږ په صحی توګه ژوندی شاعری وئيلے شو.

د روغانی صېب نوې شعری ټولګه د "سندريز احساس" په نوم خپرېږی. د دې نه وړاندې د دوئ دوه شعری ټولګې مخې ته راغلی دی چې لوستونکو د هغې ډېره پذيرائی کړې. دا اوسنی شعری ټولګه د دوئ نوې شاعری ده او په دې کښې د اوسنی حالاتو په زړه پورې عکاسی شوې ده. د دوئ د شعر خوبی دا ده چې دا ډېر ساده ولې انتهائی پُر اثره دے او ځينې شعرونه يې خو د خپل ساده اُسلوب او ژور فکر په وجه د ضرب الامثال درجه لری. زه روغانی صېب ته د پښتو د موجوده دور د کلاسيک شاعر په نظر ګورم او يقينا چې پښتو او پښتانه به په راروان وخت کښې په روغانی صېب فخر کوی.

فضل ربی راهی

۱۵ اپریل ۲۰۰۹ء

○

الله چغه د تکبیر د حیدر را
توان موقع د حق بیان په منبر را
چې پرې زړونه کړمه مُوم د سنګدلانو
په ګفتار کښې مولی داسې اثر را
چې د وخت جبر برداشت کړمه سبحانه
د فولادو راله زړهٔ او ځیګر را
چې پرې اورسم د حق اعلی مقام ته
لویه خدایه د خیال داسې وزر را
چې دیدن د صداقت اوکړم کریمه
د زړهٔ سترګو له مې داسې نظر را
چې پرې رد کړم نظریې د ګمراهانو
علیم ذاته فکر داسې ژور را

روغانے دې د کرم په انتظار یم
الٰهی د خوشحالۍ یو خبر را

۷ جولائی ۲۰۰۴ء

PUKHTO.NET
پښتو جالپاڼه

چې مشیّت د الله خوند راوړو
په خاورو کښې کښې ئې ژوند راوړو

دا تقدیر نه دے نو نور څۀ دی اشنا !
چې چاله تخت چاله ئې کند راوړو

د یوې مور نه شهزاده اوزیږېد
بلې نېستمند او حاجتمند راوړو

د شعور ګل د آرزو تخم اوکړو
بیا دغې تخم ارزومند راوړو

چې ئې فساد د آزادۍ اولیدو
انسان خپل خان له قېدوبند راوړو

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

اوس مې رواج دَ دُښمنۍ سره شو
کور ته مې شر چې شرپسند راوړو

چې له مغرب ئې خبر خواهي غوښتله
هغه اوچت سر ئې زوړند راوړو

زړې دنيا ته دغې نوې دنيا
اے روغانيه څومره ګند راوړو

۱۹ اګست ۲۰۰۴ء

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

○

دَرون تن کښې مشغولېږم نور اوزګار بهر ته نه یم
چې کوم ځائې یم هلته نه یم، هلته یم چې چرته نه یم
دیدن هسې دے وېرِیا دے د خیالونو په دنیا کښې
چې دا هسې ګودر شته دے، تلےبل ګودر ته نه یم
د اخلاقو بنائست غواړم چې دا حُسن حقیقي دے
پدې وجه هیڅ محتاجه زر، زرګر، زېور ته نه یم
تاج د جبر علامت دے، هم پدې مې ترې نفرت دے
په کوم سر چې دغه تاج وی، سرخم داسې سر ته نه یم
زهٔ له خپله ځانه غواړم کهٔ راحت کهٔ خوشحالی ده
چې خوددار یم نو په طمع د بل هیچا در ته نه یم
هسه زیار به مې رنګ راوړی، خو افسوس زهٔ به یم خاورې
لکه شمع د شپې سوزم خو به بیا سحر ته نه یم

د یو زړهٔ د پاره زړونه چې چقیږی مېدهٔ کېږی
روغانے د کتو اهل د دنیا منظر ته نه یم

۲۴ جون ۲۰۰۴

## هائیکو

شو خوشامد مو روایت سپېڅلے
اوس پهٔ نوم غټ ته زنده باد وایو
یُو مُرده باد د زنده باد د لاسه

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

◈◈◈

## هائیکو

لهٔ جنګه تختم بزدلی کوومه
دا پدې نه چې ګوندې مړ به شمه
خو ددې وېرې چې څوک مړ نه کړمه

◈◈◈

○

پهٔ لالچ دې نه غولېږم، ټول همخیال دې ستا خبر شي
ما خود دار ته ستا پهٔ شکل هر یو دروند د مچ وزر شي

مُوتازې مې جوګه نهٔ ده، چې مې تاته پهٔ سلام کړي
دوسته غَر به پهٔ غَر ورشي نهٔ خوشحال چې پهٔ تا در شي

30/8/2004

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

○

کهٔ د سترګو مینځ کښې پروت د پوزې غر دے
خو بیا هم ندی جدا یو ئې نظر دے

چې نظر لرې دا قوم به جدا نه شي کهٔ څهٔ مِصر
کښې آباد څهٔ پهٔ کاشغر دے

16/05/2005

○

حقیقت ته چې مې فام شی، لاس مې اُوزی دَ هر کاره
یم ژوندے دَ څۀ دَ پاره، کووم ژوند دَ څۀ دَ پاره

زۀ د څۀ پۀ انتظار یم، څۀ زما پۀ انتظار دی
پوهه نۀ یم چې به څۀ وی چې لا پس لۀ انتظاره

PUKHTO.NET

آخر څۀ به ترینه جوړ کړم، زۀ پدې هم نۀ پوهیږم
کۀ مبوې دَ خزان راوړم، خوشبویانې له بهاره

دا هر څۀ وینم فانی دی، زندګی عارضی څیز دے
نو دنیا اوګنم څنګه، خوشګواره مزیداره

مایوسی لویه ګناه ده، روغانیه توبګار شه
چې دا نور جهان پرې دروملی تۀ هم څه پۀ دغه لاره

19/11/2008

مغرب به ولې په قومونو حکومت نه کوی
چې ئې د علم هنر زیار ته اِدامه ورکړله
د خیال دنیا ئې تش په خیال پورې محدوده نه کړه
بلکه هر خیال ته ئې د وسپنو جامه ورکړله

8/9/2004

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

له خفګانه مې د مخ زیړے زیاتیږی
چې د خلقو څهرې وینم زیړې زیړې
دا منمٔ شی به سپرلے ګلان به ګل شی
خو مرګی به رانه پوزه وی پرېکړې

24/9/2004

چا درله چړې په زړهٔ راکښلی دی جینۍ
اوښکې دې په سترګو کښې نیولی دی جینۍ

ډېره سرګردانه پرېشانه ئې
زړهٔ کهٔ دې غلبیل دے خو خاموشه له حیا نه ئې
تهٔ جوړ په سوره کښې د دښمن کور ته روانه ئې

شونډې اسوېلو درله سېزلی دی جینۍ
اوښکې دې په سترګو کښې نیولی دی جینۍ

وایه د قاتل رواج د کوم غشی ښکار شوې ئې
دا د چا د جرم په سزا کښې ازار شوې ئې
یا خو جوړ بدل کښې د ځاروی شان پکار شوې ئې

پټ پټ دې په خپل نصیب ژړلی دی جینۍ
اوښکې دې په سترګو کښې نیولی دی جینۍ

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

یا خو دې تپه کښې د زړګی آرزو چېړلې ده
یا دې په سندره کښې د چا قصه وئیلې ده
دومره خبر نه وې چې دستور دې خولهٔ تړلې ده

سترګې هم رواج درله ګنډلی دی جینۍ
اوښکې دې په سترګو کښې نیولی دی جینۍ

ستا په محرومۍ د انصاف عدل روح ژړا کوی
ستا په حال حسّاس زړونه ماتم او واویلا کوی
خپل حق دې نصیب شه روغآنے درته دعا کوی

ستا حقوق ظالم دَوَر تروړلی دی جینۍ
اوښکې دې په سترګو کښې نیولی دی جینۍ

۱۳ اګست ۲۰۰۴ء

PUKHTO.NET پښتو کتاب پتنبا

○

چې غلامي پهٔ زور شور اوکړي د نفس
ډېر خلق داسې آزادي غواړي
يم د انسان عقلِ سليم ته حيران
مرګ له روان دے زندګي غواړي

17/9/2004

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

○

لږه پوهه پهٔ ډېر کار شي راوستلے
دے بې علمه منزرے خو جاهل نه دے
خر ذهين دے خو تجويز نه لري سر کښې
علميت ددهٔ منم خو عاقل نه دے

13/10/2000

○

وړوکوالی نه چې اووتم هوښیار شوم په ژړا شوم
د ښکلی خوب په نیمه کښې بېدار شوم په ژړا شوم
ساتلے ناپوهی ووم په دردونو کښې بې درده
د وخت په بې رحمۍ چې خبردار شوم په ژړا شوم
ښائست نه قبلوله مې د سوو شونډو مینه
د داسې محرومۍ چې کله ښکار شوم په ژړا شوم
ځوانی مې ژوبل ژوبل شوه آخر شوله شهیده
سپین ګیرے ئې حاضر چې په مزار شوم په ژړا شوم
ژړا مې وه د غریو په سختو متو رانیولې
چې نور د زور زغملو نه ناچار شوم په ژړا شومکۀ
ژوند غوارم قتلیږم کۀ ئې نه غوارمه مرمه
په دوه کښې خوار اتاله راحصار شوم په ژړا شوم

د پوهې خورولو مې جهاد وه روغآنیه!
حیا نه پکښې کله چې اوزګار شوم په ژړاشوم

۲۵ ستمبر ۲۰۰۴ء

○

ورک مې ځلول ورسره ورک شومه
سپک مې ډېرنول ورسره سپک شومه
ما بوتلل سحر ته دا د شپې خلق
دې لړ کښې پخپله بناپیرک شومه

14/10/2004

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

○

هیڅ اثر چې ئې په ذهن په زړهٔ نه وی
داسې نمونځ ګورے کول لویه ګناه ده
چې نه صبر نه تقویٰ وی په روژه کښې
له خوړلو ئې نیوَل لویه ګناه ده

19/10/2004

○

مسلمه ! چې د وخت قدر دې نه وهٔ پېژندلے
نو داسې وخت دې اولیدو چې تا نه وهٔ لیدلے

قومونه هلې ځلې کړې سیالی کړې بره خیژی
تهٔ پروت ئې په جمات کښې په خلوت کښې غزېدلے

ګڼلې چې دې سائنس ټیکنالوجی لهو لعب دی
خود ګرځه زما وروره شرمېدلے زیانېدلے

اعمال او عبادات چې دې خندان دی پرمختګ ته
کېدے شی چې قرآن دې صحیح نه وی اورېدلے

طاقت چې دې د چتی دے ګوابنېږې کته باز ته
نو خود به پروت په زمکه ئې شلېدلے پرزېدلے

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

چې تلې په نېغه کرښه نو زوال ته څنګه لاړې
لږ اوګوره چې بل خوا خو ترې نه ئې اوړېدلے

خدائې يو، رسول دې يو، کعبه يوه ده ته يو نه ئې
هم دا داسې نکته ده چې پرې ته ئې خوئېدلے

جائزې لاړې چارې او محنت چې ئې مل نه وی
حالت خپل په دعا يواځې نه شی بدلېدلے

PUKHTO.NET

غلمان کۀ نه وی خير دے مستې حورې درنه غواړی
اے خدايه روغانے په دنيا ډېر دے پسخېدلے

۹ جولائی ۲۰۰۴ء

# هائیکو

زۀ چې څۀ وایمه رښتیا وایمه
د بل خبره هم رښتیا ګڼمه
دغه سبب دے چې تېرووزم مُدام

24/12/2004

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

# هائیکو

جنګ، دښمنی قتل مې کړے نه دے
بدل د ظلم مې اخستے نه دے
څوک راته څکه لا پښتون نه وائی

2/1/2005

○

چل د ملاقات صنم له نه ورځی
پښې مې نورې دغه چم له نه ورځی
څۀ کړی پېغلتوب مې چې ځوانی لاړه
یو موسم خو بل موسم له نه ورځی
دې د ژوند کتاب کښې بې د مینې نه
نور سبق دُرخو ادم له نه ورځی
سوزی پروانه مدام په یو چراغ
دا ئې وی تقدیر دویم له نه ورځی
څوک چې وی بېغمه نو غمژن به وی
غم ورله ورځی چې غم له نه ورځی
څۀ ولیکم وخت بې دمه کړے یم
ګوتې مې والله قلم له نه ورځی

رقص د ښکلو، جام او روغآنیه ساز
بس زړۀ مې ددې نه کم له نه ورځی

۳۰ اکتوبر ۲۰۰۴ء

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

○

بل خائې کنبې ازاد ئې کۀ د ژوند هر يو ډګر ته ځې
خپله دې مرضى ده کۀ دننه کۀ بهر ته ځې

دلته کۀ ايله غوندې د کربنې نه بدل شولې
خدائې به دې معاف کړى خو د خلقو نه به چرته ځې

27/2/2005

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

○

د زور دور مې شو ختم، مستى هم رانه پۀ تلو ده
د پرون مېخانه لاړه، سيال د نن مېخانې نه يم

بُوډا ذهن مې ددې وخت سره زغل کولے نه شى
زۀ پۀ دې زمانه يمه خو ددې زمانې نه يم

11/5/2005

○

کله چې ورګډ د ښکلو ښکلو په محفل شمه
ټول ارزو ارزو ارمان ارمان غزل غزل شمه
خور پلَوه غونډ شه چې له مخه ئې اور واخلمه
دغه مې ارمان دے چې ئې تور اوربل ته بل شمه
ستا تصویر چې ګورم لکه وینم آئینه کښې ځان
ګل چې ښکلوومه سم په نرمو شونډو ښکل شمه
اغوندم صبا له چې د خړو خاورو خړ لباس
نن به څۀ خوشحاله په بخمل او په ململ شمه
ما د ځان په مینه د خپل ځان دښمنی کړې ده
نور خلق به خپل کړم کۀ په صدق د ځان خپل شمه
وخت د وصال راشي خو قسمت له کومه راوړمه
دوی ادل بدل شي کله زۀ ادل بدل شمه

مست شم روغانے د چا په شوخ او مستانه نظر
ورک چې ئې د زلفو په څنګل شمه پاګل شمه

۴ جنوری ۲۰۰۵ء

○

میشت بازار کښې شوم خو زۀ بازاری نه شوم
د بازار له هر کردار مې نفرت اوکړو

باوجود مې د ذاتی څو ګناهونو
د يو غوث وئيلو ځان ته جرأت اوکړو

28/11/2005

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

○

هم پردی به درله سر مېدۀ مېدۀ کړی
چې تۀ خپلو ته ښامار شې منګرے شې

څو خپل ورور، عزيز او دوست ته ګيدړ نه شې
پۀ الله مې دې قسم وی کۀ زمرے شې

15/4/2005

○

شپه اوږده په اودهٔ نه وی دا خو ویښ باندې اوږده وی
په مړو زر کاله کهٔ تېر شی یو ساعت ئې عمر نه وی

ژوند د خر جهنّمی دے مګر خر ته احساس نشته
بینا ژاړی په تیارهٔ کښې نابینا پکښې خنده وی

هم هغه ازادی غواړی، چې واقف له آزادئ وی
څهٔ ارمان د ازادئ کړی چې بنده څوګے د بنده وی

هغه ژوند ورپکښې نه وی کوم چې ژوند ګڼلے کیږی
کهٔ وطن لکه جنت وی خو نظام چې ئې ګنده وی

الٰهی داسې رُوح راکړې چې روحُونه مو ژوندی کړی
مُونږه داسې خلق مه کړې چې تش روح باندې ژوندی وی

روغآنیه! داجنون دے کهٔ جنون پسې جنون دے
چې تېښکونو سره جنګ کړی او په لاس کښې ئې لینده وی

نومبر ۲۰۰۵ء

○

نزاکت سره سختی کۀ ښائېدلے
د بچو او ښځو ږ یرې به کېدلې

د سختئ او نزاکت خوږه رشته ده خو پۀ خپل
ذات کښې تضاد نه شی منلے

8/3/2005

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

○

ورک دې دا ژوندون شی ښادی نه لری
غم نه پکښې هیڅ وزګارېدۀ نشته

وخت پۀ ژوندانۀ باندې موړ کړے یم
چا وې چې پۀ عمر مړېدۀ نشته

15/4/2005

○

معاش له هر څوک خپل اوزار ساتي
پاړو چې ځان ساتي نو مار ساتي
بادشاه د خپلې بادشاهۍ د پاره
نوکر عسکر وسله تيار ساتي
نواب د خپل غم نه بېغمه نه دے
غلۀ او رهزن ساتي لُوټمار ساتي
خدائي مزاج لرى دا بعضې غټان
چې څوک ئې دوست وى هغه خوار ساتي
مغرور سړى سره يارى ښۀ نه ده
څوک ځان له څله دويم پلار ساتي
راشه زمونږ د قام مقام اُوګوره
هر څوک د بل په کار کښې کار ساتي

د اُولس دوسته شاه زلمو په طمع
روغانے ناست دے خوشې لار ساتي

۶ مئى ۲۰۰۵ء

PUKHTO.NET

چې مې حاسده، ورور دښمنه قافله اوليده
والله د سرو ډمدارو ګټ راته قجير ښکارهٔ شو

ما د مالدار ظلم ژاړهٔ، غريب نه نهٔ ووم خبر
چې مې شادو اوليدو، يګ راته قجير ښکارهٔ شو

20/6/2005

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

ورته پهٔ غور او پهٔ فکر يمه
چې ناصح ما سره دا چل څهٔ کوی

خپل خان ته يو څهٔ، ماته بل څهٔ وائی
پخپله يو څهٔ، پهٔ ما بل څهٔ کوی

20/6/2005

○

کله چې مې رُوح کښې مستي راشي او خوشحال شي
زر د فلسفو دې ګډووډو ته مې خيال شي
برخه د يو بوټي د وجود وي بل څۀ نه وي
حُسن د يو لال چې ئې نصيب شي کوټي لال شي
اصل کښې جلال او جمال يو نه دي جدا دي
مل چې ئې جمال شي نو جلال هله جمال شي
خدائې مرکب نه دے کۀ صفات ئې هزارها دي
دا خو په نقطه خلقت يا دال شي او يا ذال شي
سپينه هيره څۀ ده خو د تور سکارۀ يو ذات دے
حُسن چې ئې مسخ شي نو پاتې ئې جلال شي
خره سپوږمۍ ګوره د بُعدي بنائست په وجه
دشتې عظيم غرونه دي خو بدر يا هلال شي

منفي چې شاهي له نورجهان شي پاتې نُور شي
بيا ئې روغآنې غوندې ډېر تږې د وصال شي

۴ مئی ۲۰۰۵ء

○

تهٔ چې د نیکۍ او د ښېګړې ښائست نه لرې
بیا څنګه د بل نه جام د مینې لبالب غوارې

دلته کښې چلیږي د علت او د معلول قانون
څومره بې وقوف ئې ! بې سببه مسبب غوارې

21/8/2005

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

○

ددې پسمانده سیمې هر ماشوم د بدې ورځې
سم دم د یو یتیم او د یسیر پشانتې وی

وی تنګ د محرومۍ نه خو اظهار کولے نه شی
زمونږه دبچو ژړا د ویر پشانتې وی

15/8/2005

○

څۀ ساده دوران وۀ نه بينکونه وو نه پنګې وې
نه پکښې دروغ وو نه آرنګې نه دورنګې وې

نه ناقرارى وه نه غمونه وو د نن په شان
هر خوا اطمينان وۀ ځوانى چستې نرۍ دنګې وې

PUKHTO.NET

غټې غټې محلونه بنګلې نه وې خو جُونګړې وې
کار د ديدن ښۀ وۀ د کورونو کوڅې تنګې وې

ساګ، سُوکړک، شُوملې، پيۍ، غوړى، کوَچ هر څۀ بېسياره وو
دوه يا درې غوا، مېښې به د هر چا کره لنګې وې

ژوند وۀ روغ‌آنيه! ساده ځکه وه تازه تازه
بې سنګاره پېغلې به خوشرنګې وې ګل رنګې وې

۱۲ مئى ۲۰۰۵ء

○

چې دې څۀ رنګ چاپېرچل وی بس هم دغه به دې رنګ وی
د ماحول اثر ثابت دے پۀ حېوان او پۀ انسان کښې

اے نا پوهه ! دهغۀ نه کلی واله مینه غواړې
چې پېدا شی پۀ بازار کښې او زلمے شی پۀ دکان کښې

4/9/2005

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

○

چې مذهب ئې بادری دلاوری شی
خود پۀ خپلو کښې یو بل ته شنۀ زمری شی

امتیاز د قوم چې تش پۀ شجاعت شی
پۀ خپل کور کښې د اغیارو کنډری شی

9/9/2005

○

تېر د چا چې په دنيا د عمر وار شي
دا عزيز وجود ئې خاورې شي غبار شي

چې ژوندے شي نو سپرلي ئې عارضي شي
څوک چې مړ شي تل تر تله پرې بهار شي

د بې خونده ژوند نه خوند د مرګي ښۀ دے
خو هله کۀ دا ژوندي پرې خبردار شي

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

پس له مرګه دې دوستان نه پکارېږي
البته ټولې دوستۍ به دې پکار شي

په مزار مې د دعا ګلان خوارۀ کړئ
پدې ګلو به مې ګور ګل و ګلزار شي

چې قصور د بدمستۍ راته معاف کړي
روغانے به د هغوی شکرګزار شي

يکم اپريل ۲۰۰۵ء

○

یم د وخت عظیم انسان ته حیرت وړے
چې د یو انسان خوراک د بل بدن دے

یو سلګۍ وهی مړی بل ئې جیب ته غل وی
د یو تن ځنکدن بل له امدن دے
12/11/2005

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

○

څۀ به بنۀ کارونه اوکړی چې دولت ورسره نه وی
پۀ غربت کښې ایرې خاورې د ایمان پهلوانی شی

مال دولت خو یو طاقت دے د ایمان ارمان پرې سر شی
دا ایمان څۀ ایمان نه دے چې تل پاتې ارمانی شی

10/5/2006

○

زړهٔ مې موړ دے له دنیا نه دا مقام د خون خوَرو دے
دا ځنګل د شرمخانو، د بازانو د زمرو دے
چې په شا ګزارې لتې، او د مخ په لور چیچل کړي
تجربې نه پس به وائې دا محل د داسې خرو دے
د اوبو مخلوق چې ګورې، د یو بل په غوښو پائي
په هر بحر کښې دننه، دغه اور په غر غرو دے
دُنیا هغه عدالت دے چې انصاف ورځنې صاف وی
هر یو سست ورپکښې تېز دے، هر یو تېز ورپکښې رو دے
عشق په روح کښې نظر بند دے، یا ئې قتل په نصیب دے
پتنګ جل، بوراسکارهٔ دے، بلبل سُور په وینو سرو دے
اظهار منع دے د حُسن، قیداو بند ئې مقدر دے
ښکلې طوطی چې بندیوان دے، داسې عمر د خارو دے

له زرَاتو چې پیدا وی، روغآنیه دا ئې حال وی
هر یو تن زرې زرې دے، چې جوړ شوے له زرّو دے

۳۱ جولائی ۲۰۰۵ء

○

پوخ ایمان به دي هله په پاک سبحان شی
چې اول دي په خپل ځان باندې ایمان شی

په الله به دي ایمان څنګه مضبوط شی
چې په خپل ذهن او عقل دې ګمان شی

7/6/2006

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

○

دا د مرګ کیفیت هم څهٔ عجیبه وی
شعور ورک شی پېژندلے جهان ورک شی

د افسوس مقام پدې نه دے ملګرو
چې ځان ورک شی افسوس ورک شی ارمان ورک شی

27/12/2005

○

دم په دم سرے هوښیار شي، چې تکرې دم په دم خوري
د آدم قیصه خوند اوکړي، چې آدم کله غنم خوري
ژوند عمل ردِّ عمل دے کهٔ د ښهٔ وي کهٔ د بدو
چې غم نه خوري غم ئې نه خوري چې څوک غم خوري خو ئې غم خوري
دغه ژوند دے چې فاني دے چا باقي نه مطمئن کړو
کهٔ د جام دور چلیږي کهٔ چُورلک پکښې چلم خوري
د بېدار احساس په وجه انسان بیل دے له وحشي نه
نور خوفرد خوراک په لاس خوري او هاتي ئې په خرتم خوري
دا دیندار دا ئې ایمان وي چې په سر ئې انصاف راشي
په دروغه بیا قسم خوري او رېښتیاوو ته قسم خوري
ځواني هضم ماشومتوب کړي، شي خوراک ځواني د ضعف
ضعیفي د مرګ خوراک شي، هر موسم لګي موسم خوري

څورب وخت کښې روغانیه! چې د خوارو اوښکې وینم
د چشمانو په حرم مې اوښکې جوش لکه زم زم خوري

۱۳ اګست ۲۰۰۵ء

○

سُوچه ږیره، سپین لباس، تسپې په لاس کښې
دکاندار دے په بازار کښې ئې دکان دے

دیانت او سړیتوب ورپکښې نشته
زما یار تش د نمونځونو مسلمان دے

6/8/2006

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

○

د غُرور خومره نشه لری په سر کښې
یو پنډ غوښه د خرمنې په څادر کښې

په انسان کښې خو هیڅکله پکار نه دے
کوم بد خوې چې موندے نه شی په ډنګر کښې

18/1/2006

○

شپېخه ! تهٔ د ځان غوندې دا خلق ډُوبوَل غواړې
زهٔ ورته لامبو او په درياب پورې وَتل بنايم
تهٔ ورته رکوع او بيا رکوع نه پس سجده بنائې
زهٔ ورته قعده او بيا قيام ته نېغېدل بنايم
تهٔ ورکوې طمع په اذکارو د تيار جنّت
زهٔ ورته جنَت په خپلو لاسو جوړوَل بنايم
تهٔ ورته د مينې سبق وائې هسې تش سبق
زهٔ ورته چې مينه زېګوی هغه عمل بنايم
تهٔ ورته د حسن نه د کرکې نصيحت کوې
زهٔ ورته د حسن په عظمت شان کښې غزل بنايم
تهٔ ورته قسمت ته انتظار بنائې د ونې شان
زهٔ ورته منزل طرفته لار بنايم مزل بنايم

وروره چې دا ستا خيال کښې به زهٔ روغانے څهٔ يمه
هر څهٔ چې تهٔ بنائې ورته زهٔ ورته بدل بنايم

۳۰ اگست ۲۰۰۵ء

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

هر زنده خپل خپل ماحول ته خوشحالېږي
دې کښې هم يو لوې حکمت د ذُوالجلال دے

د بُلبُل او د چينجى پهٔ ننداره شه
يو پهٔ ګلو بَل پهٔ غولَو کښې خوشحال دے

21/1/2006

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

پهٔ کروړونو روپو جوړ دے، دا زمونږ د ښار جومات
شان شوکت د عمارت ئې، شرموى نور عمارات

دا شاهى محل مسکن دے، د يو داسې شهزادګانو
چې کُوڅه پهٔ کُوڅه ګرځى، کور پهٔ کور غواړى خيرات

10/2/2006

○

فضا د نن مې روماني اوليده
ايله مې ژوند کښې اساني اوليده

د ښائستونو بازار ګرم شولو
ما پکښې ډېره ارزاني اوليده

هم مسخرې کوي هم خوله راکوي
په بوډاتوب کښې مې ځواني اوليده

ځان ئې سنګار کړو د جونګړې خوا ته
په غريبۍ کښې مې خاني اوليده

د هار دانو نه ئې تسپې جوړې کړې
د شيخ مې دا بې ايماني اوليده

په نيم نظر هزار توبې ماتوي
يار کښې مې ښکلې شېطاني اوليده

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

چې پېښورے شال ئې را اوخوئېدو
ما ئې د مخ قصه خوانی اولیده

ځان به هزار ځله قربان کړې ترېنه
کۀ د ساقي دې قربانی اولیده

کافره ! شکر به په کفر اوکړې
کۀ دې د نن مسلمانی اولیده

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

لا په دریاب ئې لاهو کړې نه یو
د خدائې مې دا مهربانی اولیده

د نوی وخت هوا ترې یوړو پلَو
نن سرترپایه روغانی اولیده

۳ ستمبر ۲۰۰۵ء

○

دا قانون ددې وطن دے چې قانون به ئې وی مات
حقداران پکښې هغه وی چې طاقت وی د چا زيات

د طاقت حکمرانی ده د ځنګل قانون چليږی
دلته هره محکمه ده محکمهٔ جنګلات

5/12/2006

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

○

فرض پهٔ مونږ ده د بدن صفائی
د سر او ږيرې د تهول تن صفائی

خو دا خبره هيڅ ممکنه نه ده
تر څو چې نه وی د وطن صفائی

7/8/2006

○

لاړې ارزوګانې مې زړې شولې خزلې شوې
هغه د ځوانۍ د لېونتوب قصې مې غَلې شوې

نه مابنامے درد او نه سُرور د سحر پاتې شو
ټولې رنګارنګه تلوسې مې په پښو شَلې شوې

هغه سَوې سوې او د سوز ډکې سندرې مې
اوس په مرثیو کښې د یادونو مې بدلې شوې

هائ نصیبه ! مړې کۀ مې لمبې د ارمانونو شوې
زر پسې لمبې د محرومیو راته بلې شوې

ژوند کۀ هر څو تریخ وی خو چې تېر شی نو بیا خوږ لګی
څۀ بدرنګه تېرې زمانې راته نن ښکلې شوې

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

کړې مې د عمر ډېر مزل دې سترې شوې يم
لنډ راته منزل شولو او لنډې مې مزلې شوې

شپه او ورځ دوه پلُونه دی د ژرندې وړۀ کوی تنې
څۀ د غم سندرې څۀ نغمې او څۀ غزلې شوې

زر کۀ جواهر دی تول له خاورې زېږېدلی دی
څۀ خاورې به ښۀ شي دغه خاورې کۀ دې خپلې شوې

داسې مې دې ژوند چې نۀ ئې زۀ منم نه ما منی
خود مې د زړګی غوښتنې ټولې نامنلې شوې

زړۀ مې روغانيه لکه سوات يتيم يسير شولو
ژوند پکښې اور واخستو تالا پکښې ځنګلې شوې

۱۸ ستمبر ۲۰۰۵ء

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

صداقت بعضې یو وخت کښې صداقت وی
بیا هم دغه صداقت شی مردود وروستو
دا اسلام نه وۀ دا عشقِ مجازی وۀ
چې ایاز ئې کړلو وړاندې محمود وروستو

9/4/2007

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

وزیران زمونږ هغه دی، کوم چې زر کاله پخوا وو
هغه وخت نه را پۀ دېخوا، مو موندلے سرُور نه دے
شهنشاه مو هم هغه دے، خوی ئې نه دے بدل شوے
صرف فرق پکښې دا دے، چې ددۀ نوم تیمور نه دے

13/5/2007

○

کۀ آئینه کښې یاره ځان جوړووم
والله چې ستا د پاره ځان جوړووم
ستا د مئین زړګی د پاره اشنا
په ورځ کښې څو څو واره ځان جوړووم
صبر کوه پیاله لا جوړه نه کړې
زما ساقي نګاره ځان جوړووم
ګلونه راوړه رنګا رنګ ګلونه
کوه تادی مالیاره ځان جوړووم
چې مې قصه ورته رنګینه اوکړې
ایسار شه لږ ربباره ځان جوړووم
د خپل ښائست غرور ژوندے ساتمه
ځکه خو بې اختیاره ځان جوړووم

کله چې څم د روغانی غېږې له
اکثر په لاره ځان جوړووم

یکم اکتوبر ۲۰۰۵ء

PUKHTO.NET
پښتو کتاب نټ

نظریه کۀ د قرآن ده، یا کۀ فکر د ډارون دے
قائل نه دی پۀ انسان کنبې د کم اصل د اصیل
اے د وخت ګمراهه خلقو! تاسو ولې هغه وایئ
چې تصدیق له ئې موندلے پۀ دنیا نه شئ دلیل

15/5/2007

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

ستا د کاجلو، د سُرخۍ پۀ سبب پوهه یمه
خو پوهه نه یم قصه څۀ راته پۀ خال کنبې کوې
پۀ تصوّر کنبې دې تصویر پۀ تصوّر کنبې وینم
زما پۀ خیال کنبې تۀ هم ژوند زما پۀ خیال کنبې کوې

8/8/2006

○

ستا خوږو خوږو خبرو کښې معصوم غونډې انداز
یو رباب په زیر غږیږی په نازک غونډې شهباز
رسوی هر یو نظر دې، ارمانونه زلمیتوب ته
ستا په تریخ بیان کښې چل دے، ستا په تریو تندی کښې راز
چې په غور درته غور شم، د ققنس غونډې اور واخلم
ټول بدن مې د سوز ډک شی، ستا د خولې په نرم ساز
ستا رنګین ګلشن د غاړې، په فکرونو کښې اخته کړم
چې دا هار دے که تسبې دی، د سینې په جانماز
حُسن ډېر زیات زورور دے، مینه ډېره ده کمزورې
د مئن جهان کونتره، حکومت کوی په باز
دا رواج ئې ګناه بولی، ګنې مینه خو نېکی ده
دا کار دلته عجیبه دے، بد انجام نېک ئې اغاز

د عشق لوبه چې شی ګرمه، روغآنیه ! دا ئې رنګ شی
محمُود وروستو صف کښې کښېنی، ترېنه مخکښې شی ایاز

۲۴ اکتوبر ۲۰۰۵ء

○

زۀ وومه پۀ آغاز کښې خو د نن پۀ شکل نه ووم
انجام کښې به زۀ هم يم خو چې يم داسې به نه يم

پېدا چې شوم نو بل شان ووم چې يمه داسې نه ووم
پۀ خپل طبعي مرګی چې کله مرم داسې به نه يم

31/7/2007

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

○

هلته حالات پۀ ځائې ولاړ وی چې ظلمت وی پکښې
اعلی مقصد څۀ بل شے نه وی خو دولت وی پکښې

دا وروستو پاتې او بې نظمه چاپېريال اوګنه
چې حکم نه وی تعميل نه وی نصيحت وی پکښې

13/5/2007

○

چې جائیداد لری نو خوری به د جائیداد غم
چې اولاد لری نو خوری به د اولاد غم
دا جوندی وی چې د ژوندپه غم اخته وی
مړی نه کوی هرګز د زنده باد غم
چې د غم نه خبر نه وی ناخوانده وی
دے د ژوند په مدرسه کښې غټ استاد غم
د عروج تاج د هغه ملت په سر وی
چې د کورنه زیات په سر وړی د هیواد غم
ویښ اودۀ دواړه د غم نه بې غم نه وی
چې بې هوشه شی نو نه ئې وی په یاد غم
چې بنیاد ئې د ښادۍ د بل په خون وی
په ښادۍ دې بدل نه شی د صیاد غم

د خاروو شان چې ئې ژوند وی روغانیه!
هغوی څۀ اوکړی د ګټې د بېلاد غم

۲۶ اکتوبر ۲۰۰۵ء

○

د جهان نېکي، کۀ اوکړې خو بغير د کليمې نه
تۀ ملعون ئې، تۀ ابليس ئې ، ته بنده د رحمان نه ئې

کليمه چې دې بيان کړه، بيا کۀ هره شېطاني کړې
مُرتد نه ئې، ملعون نه ئې، ابليس نه ئې، شېطان نه ئې

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

1/7/2007

○

د ښۀ ژوند خپلولو له انصاف خپلول غواړي
انصاف پوخ ضمانت د سوکالۍ او د سيالۍ دے

انصاف د اعلی ژوند او ترقۍ اعلی سبب دے
انصاف دَ امن پلار، سکه نيکۀ دَ خوشحالۍ دے

2/12/2007

○

د دې رواج د پنجرې وَر ګورم
ترېنه د تېښتې رَو ګودر ګورم
چې مې بې زړو څوک انسان نه ګڼي
بیا کۀ زر نه ګورم خو زر ګورم
بدي رارسي چې نېکي کوومه
ځان له همېش په بیعه شر ګورم
په ناخوانده شېخ کښې تهذیب لټووم
د بُت په سترګو کښې نظر ګورم
چې مې مدهوش کړي د نظر په جادُو
په خوشي ښار کښې جادوګر ګورم
د چا په یو نظر څۀ ورک غوندې شم
ټوپۍ مې لاس کښې وي خپل سر ګورم

زۀ روغانے کووم لټون د ښکلو
د زړګي غوښنو له اَشَر ګورم

۳ دسمبر ۲۰۰۵ء

○

دا حالات سړے د ځان جهان قاتل کړی
ګنې څوک وی چې د خير پۀ تلاش نه وی

بنۀ سړے وی خو چې څوک ئې ليونے کړی
بيا هغۀ نه بل عيّار او بدماش نه وی

27/8/1999

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

○

ځان ته مئين او بل ته وايو رقيب
د ښائست بل مجنون ته اور لګوو

د خپل يو څو ورځې ژوندون د پاره
مونږه د بل ژوندون ته اور لګوو

12/8/1999

○

په مونږه کړې لویه تا مهرباني ده ربه
چې رابخښلې مرتبه دې انساني ده ربه
لاره د ژوند دې رابښودلې نوراني ده ربه
خو مونږ ناپوهو لار نیولې شیطاني ده ربه

چې انسانان یو انساني راله اوصاف راکړه
مونږ له صفت انساني عدل و انصاف راکړه

لارې کوڅې مو د نړۍ خپلې ګڼلې نه دي
کور نه بهر مو هیڅ یو ځائې ته خپل وئیلې نه دي
ددې ښائسته زمکې په حشر مو ژړلې نه دي
په تباهۍ مو سنګین زړونه دردېدلې نه دي

آب و هوا چې وه زمونږ د ښهٔ صحت ذریعه
مونږه ګنده کړه شوه زمونږ د علالت ذریعه

PUKHTO.NET پښتو کتابتون

مونږه د زمکې په ښکلا باندې څۀ لوبې اوکړې
مونږ په هوا او په فضا باندې څۀ لوبې اوکړې
مونږ سمندر او په دریا باندې څۀ لوبې اوکړې
مونږه په دشت او په صحرا باندې څۀ لوبې اوکړې

مونږ د مستۍ او د ښادۍ په ځائې کښې غم جوړ کړو
جنت جنت غبږه کښې مونږه جهنم جوړ کړو

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

مونږه د ونو ځنګلونو دښمنی کړې ده
مونږ د سیندونو او دشتونو دښمنی کړې ده
مونږه د ښکلو شنو غرونو دښمنی کړې ده
مونږه د بوټو او ګلونو دښمني کړې ده

په ځنګلی حیات باران مو د ګولو کړے دے
مونږ سپکاوے د خدائې په زمکه د سپرلو کړے دے

دغه فطرت دے چې په مونږه ئې انعام کړے دے
آخر چې مونږه د فطرت کوم احترام کړے دے

دخل په کار کښې د فطرت مونږ مدام کړے دے
مونږ د احسان په بدَله ئې قتلِ عام کړے دے

په مناظرو مو د ظلم انتها کړېده
مونږ خطا کار یُو مونږه ډېره ناروا کړېده

اوس چې په مونږ باندې دا ګډوډ موسمونه راځی
چې عزابونه راوړی داسې بارانونه راځی
دا چې بې ترسه طوفانونه سیلابونه راځی
چې هیڅ علاج نه لری داسې مرضونه راځی

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

دا چې آزاد شکل مو شکل د غلام اخلی
دا خو فطرت دے چې زمونږ نه انتقام اخلی

یکم مئی ۲۰۰۶ء

○

تصوّف په رندګۍ کښې ورمنده م
پابندي په آزادۍ کښې ورمنده م

چې په اصل کښې وي مرګ خو نوم ئې ژوند وي
داسې مرګ په زندګۍ کښې ورمنده م

1/1/1999

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

○

په تيارهٔ کښې پيدا شوی او لوئې شوی
کُوټ بنګار دی ټول پاسه ورپکښې نشته

په ګنوالی پسې مه ځه ددې خلقو
ټول صفرونه دي هندسه ورپکښې نشته

23/6/2004

○

عملونه مو دی ښنۀ او خراب ګډوډ
سره اغیړو ګناه او ثواب ګډود

په هر سَر کښې د آرزو او ضمیر جنګ دے
د روح ساز مو دے د زړۀ په رباب ګډوډ

د نیکئ بدۍ پدې مهمان خانه کښې
مونږه څښلی دی شوملې او شراب ګډوډ

زړۀ مستی د ځوانئ غواړی او زور نشته
په ما وخت دے د پیرئ او شباب ګډوډ

ژوند د غم او خوشئ جوړ دے روغآنیه
پیدا کړی خدائې ازغی او ګلاب ګډود

۷ مئی ۲۰۰۶ء

PUKHTO.NET

○

چا کښې چې عقل نه وی بیا مئینېدے څنګه شی
د عشق په کار کښې چاته زهٔ ولې مجنون اووایم

مینه کول د بې وقوفو خلقو کار خو نه دے
ښائی خو دا چې هر مئین ته افلاطون اووایم

9/3/1999

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

○

راغلې دنیا ته خو دنیا نه وه بلا وړې وه
هغه زردارو په تګی باندې پخوا وړې وه

تا هم هغوی شان خود غرضی او غلا غلتی شورو کړه
وروستو زردار شوې خو غربت درنه حیا وړې وه

21/3/1999

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

تل د لوړ همت په برکت سره
لاندې خلق باندې شي د باندې نه
تش د يو قدم په اخستو سره
وروستو قدم وړاندې شي د وړاندې نه
ګورې که په لاندې آئينو کښې ځان
لاندې به ځان اووينې د لاندې نه

○

سکارۀ زلفې به دې خود سکارۀ سکارۀ وی
چې خورې دښکلی مخ په تنارۀ وی

ځائې په ځائې دې شنۀ او سرۀ په سپین رخسار کښې
په یاسمین لکه ګلاب چې راخوارۀ وی

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

چې ستی شی ستا د شونډو په سکروټو
تمام عمر ئې په زړۀ باندې تیارۀ وی

خدائې دې ستا د مخ جنت هغسې نه کړی
چې ئې واړه جنتیان حرام خوارۀ وی

روغانی دے ژوند له ښکلو قربان کړے
څۀ لحاظ دے په چا خدائې ته دې ښکارۀ وی

۲۸ اکتوبر ۲۰۰۶ء

○

د شپې په خاموشۍ کښې یو طرفته ځانله کښېنم
دنیا نه مرور دا سوے زړهٔ پخلا کووم

زما د بې مخۍ اندازه اوګورئ ملګرو!
له چا چې مرور شمه هغهٔ پخلا کووم

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

○

قائد چې قیادت، قوم پېروی کښې وفادار وے
دنیا به ئې په بند دَ بَلا نهٔ ایسارېده

تنظیم، یقین محکم او اتحاد چې ئې لرلے
په ګېو قصابانو کښې غوا نهٔ مُردارېده

○

وینځی له زړهٔ نه سیاهي عاجزي
ده حقیقت کښې بادشاهي عاجزي

دے تکبّر چې بدخواهي خورَوی
راوړی په غبږ کښې خیرخواهي عاجزي

PUKHTO.NET
پښتو کتاب نیټ

هغوی ځان من ګڼی او بل شرشاهي
چې پکښې نه وی شرشاهي عاجزي

کړی عاجزي د بصیرت خاوندان
ګمراه ته ښکاری ګمراهي عاجزي

زهٔ روغانے چې پرې انسان جوړ شمه
زړهٔ له مې راکړې الٰهي عاجزي

۲۲ نومبر ۲۰۰۶ء

○

زندګی باج شوه د بنهٔ ژوند پهٔ انتظار کښې زما
ډېر ګیله مند زړهٔ کښې ددې دنیا میراتې یمه

پهٔ مست نظر اوس د چا زړهٔ سُورے کولے نه شم
ځوانی مې لاړه ډزېدلے کارتُوس پاتې یمه

14/6/2002

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

○

مرګه ! یو تهٔ ئې چې زما ژړا دې غلې کړله
لامدهٔ چشمان خو مې د اوښکو نه لږ وچ شُو کنه

کهٔ پهٔ اُجرت باندې ئې قتل کړم دا هم بنهٔ اُوشُو
زما پهٔ مرګ خو ئې بچی د مرګه بچ شُو کنه

19/5/2002

○

سوے لوے تور يمه، ستا د مخ په نمر ګرځم
سرې لمبې سحر ګرځم، زيړ رنګ مازيګر ګرځم
مينه، نفرت، حسن چې، يو ځائې شول ژوندون شولو
دغه مسلسل سبب، ژوند له يو زيګون شولو
ګرم فطرته نه يمه، زۀ ستا په اثر ګرځم
زۀ چې له بې نيازه ذات، کله راجدا شومه
غم شومه احتياج شومه، شاه شومه ګدا شومه
يو ساعت کښې موړ يمه، بل ساعت نهر ګرځم
ستا ښکلا مئين کړمه، اوس به ښکلووم ښکلا
بدو نه نفرت کووم، هر ځائې لټووم ښکلا
خود به لروبر ګرځم، خود به در په در ګرځم
يمه په نېکۍ پوهه، نه يم په بدۍ پوهه

لفظ د الا الله کړمه، خدائېګو په خودۍ پوهه
اوس روغانے بر ګرځم، خيال کښې د دلبر ګرځم

يکم جنوري ۲۰۰۴ء

○

جهالت هم عجیبه شان کارخانه ده
چې د خپلو نه پردی پکښې جوړیږی

د ښېګړې نه ربړه فساد تیار کړی
له نېکیو نه بدی پکښې جوړیږی

د انسان نه پکښې سپے یا ټټو جوړ شی
خرو قچرونه سرې پکښې جوړیږی

د عالم نه پکښې سور کافر تیار شی
د کافر نه مولوی پکښې جوړیږی

20/1/2001

○

ستا د مخ سپرلي راله په تن کښې خزان جوړ کړلو
ځان مې څۀ بې ځانه غونډې شو چې دې ځان جوړ کړلو
جوړ چې قیمتي هار کړلو تا د لیلی غاړې له
اے زرګره ! ماله دې دار څومره ارزان جوړ کړلو
پوهه شوم د ژوند په تجارت کښې مې مرګ اوګټو
ما چې د خپل عمر د دردونو میزان جوړ کړلو
قهر، رحم، مینه، نفرت داسې نور تضاد تضاد
څۀ له عجیبه خټې دې خدایه انسان جوړ کړلو
تېز نظر د مینې حقیقت شي د ښائست لیدے
ماته خپلې مینې د پردی نه جانان جوړ کړلو
څنګ به د الله پاک د شېطان نه په امان شي څوک
خپل نفس د هر چا چې ځان ملاتړ د شېطان جوړ کړلو

لافې روغانے د سخاوت کووم دروغ ربه
ستا په دسترخوان مې له خپل ځانه مېزبان جوړ کړلو

۸ دسمبر ۲۰۰۶ء

○

وائی کۀ روغ چې مونږ دروغ نه وایُو
خورمه قسم چې دا دروغ وائی

ربښتیا خبرې لیونی کوی تل
دا څۀ دروغ چې دی دا روغ وائی

24/4/2001

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

○

ددې بعضې مشرانو غلو د لاسه
موږ وطن پۀ کښېده وږے دے کنګال دے

اوس د خلقو پېشه بله پاتې نه ده
یا پۀ نره غلا کول دی او یا سوال دے

2000ء

○

ملنګي څۀ ده خو کچکول غواړي
ګنده جامې ګنده پکول غواړي

تش د اظهار نه ئې مقدار شي محسوس
غيرت نه ناپ غواړي نه تول غواړي

د بعضو بعضو سوال به څۀ قبول شي
چې څۀ د خدائې سره دې ټول غواړي

هر څۀ له ځائې، موقع، حالات وي پکار
جاهل په واورو کښې غانټول غواړي

د مولينا قاروَل ګران خو نه دي
بس يو سُرنا غواړي يو ډول غواړي

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

څۀ غله ترې لرې څۀ ئې خوا کښې اوسی
ګلشن به ښکلے شی خو شپول غواړی

فرنګے کوم داسې غټ جرم کوی
عاجز پټرول غواړی کنټرول غواړی

په چاپېرچل دے د ذهنونو تعمیر
هر سړے ښۀ دے خو ماحول غواړی

انسان غلام شی روغانیه ! په مال
دا ښکار نه جال غواړی نه جول غواړی

یکم مارچ ۲۰۰۷ء

PUKHTO.NET
پښتو دا ټ نيټ

امانت، دیانت ورک شول، ځان ساته چې پهٔ ځان نه شي
چې ستا مال پهٔ شوق اوخوری، ډېر اولس ددې شوقین دے

یقیني خبره دا ده، چې یقین پهٔ چا اونه کړې
کهٔ یقین دې پهٔ چا اوکړو، شوې تباه دا مې یقین دے

25/11/2000

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

حقیقت کښې "زهٔ" ته "مونږ" وئیلے نهٔ شم
پهٔ همجنسو کښې کهٔ جمع یم منِها یم

ځان چې نهٔ ګڼم تنهاپدې مخلوق کښې
مطلب دا شو چې نادان بې انتها یم

کهٔ هر څو د ګڼو خلقو مینځ کښې اوسم
چې انجام مې تنهائی ده نو تنهایم

15/4/2001

○

الوائهٔ ئې په طرف شی د اسمان
چې پاسی سحر وختی لکه مارغان
په راستۍ کۀ خاک نشین وی تخت نشین شی
ناراست تخت نه راګزار شی په ډېران
کامیابی په ډېر طاقت قوت کښې نشته
څو همّت وربانديې نه شی پاسبان
لږه وینه چې بائیلی ګټی به ډېره
دا متل دے ګټه کیږی په تاوان
د محمود شان د میړی نه سبق واخله
چې کړې مات د مایوسۍ واړه بُتان
شتهٔ وزرو کښې چې ځان کړی بې وزرو
په خپل کور کښې ئې بل خوری لکه چرګان

په سُستۍ او په چُستۍ اختیارولو
روغانے کله لفنګ شی کله خان

۱۸ مارچ ۲۰۰۷ء

PUKHTO.NET پښتو ډاټ نېټ

○

پۀ مونږ کښې هر يو کس کړی بل ته د نېکۍ نصيحت
وخت د بدۍ چې شی د ټولو نه اول ئې اوکړی

د ګناه هر يو کار ته مونږ د ګناه کار نۀ وايو
مونږه ئې هله ګناه اوګڼو چې بل ئې اوکړی

5/9/2001

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

○

جمود نخښنه د مرګی ده، چرته ښکار د جمود نه شي
حَرکت کښې بَرکت دے، دغه ژوند دے کۀ پوهېږې

حقيقت ته کۀ فام اوشی، نو د ژوند پۀ سائيکل سور ئې
چې روان ئې نو محفوظ ئې، چې اودرېږې نو غورزېږې

24/1/2002

○

مرګ به راشي له دنیا به مې رحلت وي
نه پوهېږم چې ئې څۀ به کیفیت وي
ما به وژني د خلاصي به مې څوک نه وي
لویه خدایه دا به څومره سخت ساعت وي
اختتام به ئې زما په تباهۍ وي
پېښ به ماته لاعلاجه علالت وي
دا شتۀ ذات به مې په نیشت ذات کښې بدلېږي
د بدن هره خُلیه کښې به قیامت وي
چې تقدیر کښې ئې نجات لیکلے نه وي
دا به داسې یو بې مثله مُصیبت وي
دا خو ما د خپل یو خیال په رڼا اووې
شي کېدے د مرګ څۀ بل شکل و صورت وي

د قیامت نه پس کۀ څوک روغانے ګوري
د ویالې په غاړه ناست به د جنّت وي

۱۳ مارچ ۲۰۰۷ء

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

○

د انسان په طمع مه شه که انسان ئې
ځان به خپل دې آخر کله پکاریږی

توان چې خپل نه وی له بل طمع عبث ده
مړی کله په پرستنو کښې ګرمیږی

15/1/2002

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

○

روغ زخمونه مې تازه شی چې ناڅاپه چرته واورم
د تېر ژوند د دردېدلی،زړۀ حالات په سازینه کښې

خپل تصویر ته په ژړا شم، تصویر ماته په ژړا شی
ځان سره چې چرته اوکړم ملاقات په آئېنه کښې

30/3/2002

○

تصوّر کښې چې ددې دنیا نه لاړم
شوه خاموشه خاموشي پېدا په شور کښې

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

په دوزخ کښې د جنّت په خیال کښې ډوب شوم
د اُمید د ښکلي جام په ښکلي سور کښې

ډېر کارونه مې په خپلو لاسو اوکړل
دشمني د ورور مې ورکه کړه په ورور کښې

انسانان مې تول د یو نیکهٔ نمسي کړل
سر مې غوڅ د امتیاز کړو په سپین تور کښې

صداقت مې د صدیق خلقو کښې عام کړو
د عمر عدل مې خور کړو په هر لور کښې

شجاعت مې په صحیح مقام کښې کیښود
شوه دوستي په بې زورۍ کښې او په زور کښې

عثماني خوشبو مې پورې کړه هر چاته
سخاوت مې یوړو هر زړهٔ له په شکور کښې

چې مې فکر شو نو ناست وومه په کور کښې
یو دوه درې سکروټې پاتې وې په اور کښې

۱۳ مارچ ۲۰۰۷ء

PUKHTO.NET
پښتو پاڼه نېټ

○

دلته اووینه تقدیر پهٔ رنو سترګو
چې ښې بدې ورځې څهٔ رنګه ویشل شی

څوک لکونه ورځ ګټی پهٔ آرام ناست وی
څوک چې شل روپۍ ګټی نو پهٔ پښو شل شی

3/1/2003

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

○

پهٔ یو مېدان کښې هم خپل ځان د چا نه کم نه ګڼو
پهٔ هر حالت کښې ځان د سیالو سره سیال ساتُو

اُورېو له سندهٔ ورکړو، برېت تاؤ کړو، پهٔ شا برند اُوګورو
مونږه کهٔ تختو خو بیا هم د عزت خیال ساتُو

29/6/2002

○

يوه ورځ زما د نفس نه تپوس اوکړو زما خيال
امن څۀ دے څۀ ئې رنګ دے څۀ ئې نخښبه خدوخال

کوم ئې ځائې دےکوم ئې ښار دے کوم ئې در کوم ئې ديوال
نژدې لرې څومره اوسی له عروج او له زوال

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

فرشتې شان ښکلی نفس م ې سترګې پورته کړې شېطانې
نرمې شونډې ګلابی ئې کړې مټاکې ورانې ورانې

په انداز د جوش ئې اووې امن ژوند د مسرّت دے
دا يو نوم د تحفظ دے دا دويم نوم د جنّت دے

رنګينی چې ژوند کښې راشی دا د امن علامت دے
د عروج چې څۀ اسباب دی امن ټولو کښې اوچت دے

چې په کوم ځائې کښې وی امن فردوسی به ئې منظر وی
چې کوم ځائې کښې امن نه وی جهنم ئې مقدّر وی

خیال مې نفس نه تپوس اوکړو، دی د امن څو اسبابه
ماته ټول اسباب بیان کړه، اورېدو ته یم بېتابه

شی کېدې زۀ شم روښانه، ددې خپل سوال له جوابه
نفس مې خیال ته اووې غوږ شه، چې خبر دې کړم جنابه

په جهان به امن راشی، شی د شر خیری به صاف
یو سبب دے هغه دادے، چې انصاف دے بس انصاف

خیال وئیل انصاف به راشی، په څو رنګه سَببونو؟
نفس وئیل چې عالَم سترے، شی په ژوبلو په قتلونو

په بمانو او په توپو، په ټېنکونو مشینونو
داسې ذات به د ځان ضد شی، هوش به خور شی په ملکونو

او دویم سبب ئې دادے، چې بغیر د فسادونو
واکداران سر په زنګون کړی، نوره ناوری د نفسونو

۷ فروری ۲۰۰۷ء

هر انسان بل ته محتاجه دے خو بیا هم
ډېر کارونه دی چې کیږی پهٔ یواځې

چې څُوک ګوتې له د بل پهٔ طمع ناست ئې
پرې پخپله ولې نه کوې متیازې

7/9/2002

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

راز د مستۍ پټ وی څو مستی پهٔ اعتدال کښې وی
څهٔ وخت چې مستی د حد نه تېره شی برخېره شی

هیڅ خوند او مزه ئې پاتې نه شی پهٔ خوړلو کښې
کله چې کټوی کښې مالګه ډېره شی یا هېره شی

10/10/2002

○

یا به زاهدي کړي یا به چارې د مینا کوي
یو چې درنه اونه شي دا بل به خامخا کوي
دوه درې ورځې ژوند دے تېروي به ئې په هر لحاظ
یا به ملنګي کړي یا به لوبې د دارا کوي
یو د مستۍ ژوند دے بل خاموشه د ذلت نه ډک
خوښه یاره ستا ده اوس چې دا کوي کۀ دا کوي
تۀ له مستي خاورې د مستۍ په لاس جوړ شوے ئې
ژوند بائیلې کۀ نا د مستانه فطرت رضا کوي
مینې زېګولے ئې د مینې زېګولو له
مینه دې مذهب دے کۀ ئې پته کۀ په غلا کوي
یو قدروقیمت دے د ښائست، بل ترې نفرت کول
اوس دې خپل ایمان دے چې روا کۀ ناروا کوي

پوهه ئې د ژوند د تېرولو په دستور کړلې
اوس به روغانی ته یا خو ښا کوي یا نا کوي

۲۵ فروری ۲۰۰۷ء

ساقي راډکوه راته په تش جام پسې جام
زۀ نور ليدلے نه شم په ماښام پسې ماښام
په نورو پسې نور ځي زۀ په تا پسې درځمه
نيک نام پسې نيک نام ځي په بدنام پسې بدنام
چې ژوند وی سلسله کله ختميږی د مستانو
قدرت زيګوی تل په هر خيام پسې خيام
دَ سرو شونډو موسکا نه پس غمزې بيا ادا ګانې
بخشش کړه راته داسې په انعام پسې انعام
د مستې مينې زور چې پرې غالب شو روغانيه!
محمود له ځانه جوړ کړو په غلام پسې غلام

۱۸ نومبر ۲۰۰۵ء

PUKHTO.NET

○

زما غر صلاحیت ئې، غرغره کړو کالعدم شو
مفلسی پهٔ اور ستی شه، پرې بې دمه مې قدم شو

د غم غتهٔ دائره مې، بې وسی کړه دومره تنګه
چې د نورو غم مې هېر شو، تش د ځان سره مې غم شو

6/11/2002

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

○

پښتون کښې راغله عجیبه تبدیلی
جنج ئې ختمېږی او خیرات پاتې دے

د خان خانی ئې مولېنا ته ورکړه
حجره ئې ختم شوه جمات پاتې دے

25/12/2002

○

خدایه توان راکړې چې کښېنمه په جاز کښې
ښهٔ خوشحاله ترېنه کوز شم په حجاز کښې
د حضرت د وطن ښهٔ سېلونه اوکړم
د تنزرو تیکې اوخورم په ریاض کښې
د جدې په لګژری هوټل دېره شم
خپلې ټولې قیصې اوساتم په راز کښې
په محفل د موسیقۍ کښې برخه واخلم
د خپل نیت سندرې واړووم په ساز کښې
ځان په ښکلو کښې په دا رنګې فنا کړم
لکه څنګ چې محمود ورک وو په ایاز کښې
د جهان مستۍ عیشونه هلته اوکړم
بیا ئې پټ کړم په تسپو او جانماز کښې

روغانے به شم حاجی صېب په دروغه
د حاجی انداز به جوړ کړم په انداز کښې

۲۶ مئی ۲۰۰۷ء

○

چې ویجاړ شی د زړګی او د ځیګر کور
بې مزې شی د سرو زرو د مر مر کور
بېلتانهٔ بېغمه کور پرېښودے نه دے
بد بختی وی په نصیب د بختور کور
هیڅ یو کور په دې دنیا پائېدار نه دے
البته کهٔ څوک آباد کړی ترې بهر کور
امتیاز پکښې د غټ او د کچ نشته
د فنا کتاب کښې لیک دے دلته هر کور
جوړ لهٔ خاورې سکندر شو خَړه خاوره
شو د خاکه سره خاک د سکندر کور
کهٔ د کور څهٔ حیثیت په دې دنیا وے
روغ موجود به وهٔ د هر یو پېغمبر کور
د تسکین او اطمینان اُمید عبث دے
جوړوَل دی په چپو د سمندر کور

۲۷ نومبر ۲۰۰۵ء

PUKHTO.NET

○

زاهده ! ته مې د يَو کار نه په بل کار اچوې
ظالمه ولې مې آخر نَشه کښې خار اچوې
زهٔ يم د مينې په رنګين رنګين خيالونو کښې ډُوب
ناترسه تهٔ راته په پوزه کښې موهار اچوې
د شمار يو څو ورځې ژوندون راپورې مهٔ اور کوه
ماله تهٔ ولې په اوږو د وهم بار اچوې
خدايه شي کله خندنې به دا غمژنه فضا
دې غمکده کښې به په کومه ورځ خمار اچوې
په نصيحت چې روغانے د ځان په شان جوړوې
دا نابينا باندې نرۍ ستنه کښې تار اچوې

۲۰ نومبر ۲۰۰۵ء

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

د قوم مشر یو مزدُور ددغه قوم وی
دا حدیث مې اوربدلے د حضور دے

زړهٔ شی ځکه د بدن بادشاه ګڼلے
چې هم دا زړهٔ پهٔ بدن کښې غټ مزدُور دے

8/1/2003

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

یا ماشوم شه یا نیازبین شه خوب دې زیات کړه
کهٔ دا نه وی نو خواربږې بیماربږې

ځان کم عقل بې پرواه کړه خوب به درشی
تهٔ چې څومره هوښیاربږې بېداربږې

12/2/2003

○

هر صبا زمونږ خفهٔ دے هر ماښام زمونږ خفهٔ دے
د یو څو فرقو د لاسه واړه قام زمونږ خفهٔ دے

څوک مو یو خواته راکاږی څوک مو بل خواته راکاږی
په خپل ځان کښې مو واک نشته ژوند تمام زمونږ خفهٔ دے

په ګولو، لمبو، لوګو کښې ژوند د مرګ غېږې ته دانګی
هر یو خاص زمونږ خفهٔ دے هر یو عام زمونږ خفهٔ دے

د ژوندون په مېخانه کښې هر مینا د اوښکو ډک دے
هر یو جام د اوښکو ډک دے هر خیام زمونږ خفهٔ دے

دا نړۍ خدائې پېدا کړې مېکده وه غمکده شوه
هر یو فرد په دې نړۍ کښې ګام په ګام زمونږ خفهٔ دے

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

د بمانو په تیرو کښېِ د ټوپکو په ډزا کښې
روح مو تن کښې بېقرار دے هر اندام زمونږ خفهٔ دے

خان، دهقان، مزدور خفهٔ دی پیر خفهٔ مُلا خفهٔ دے
هر قائد زمونږ خفهٔ دے هر امام زمونږ خفهٔ دے

روغآنیه اوس نائی شه د خپل سر د خپلې ږیرې
ډم خاني ټولې ختمېږی هر حجام زمونږ خفهٔ دے

۱۸ اګست ۲۰۰۷ء

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

○

واجب القتل مې ګڼې د محبت پۀ ګناه
له دروغژنو سزا خورم د صداقت پۀ ګناه

د اور لمبو ته یم نیولے د دولت فرشتو
پۀ جهنّم کښې غوپې خورمه د غربت پۀ ګناه

27/2/2003

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

○

مونږ مسلمانان یو پۀ خپل مینځ کښې ورونړه ورونړه
دا زمونږ نعره ده چې ځاریږو یَولۀ بله

بنۀ اعلی وسله، بمان ساتُو پۀ خپل خپل کور کښې
دا پۀ دې سبب چې مونږ ویریږو یَولۀ بله

17/7/2003

○

أولس شته خو د یووالی نام ئې نشته
د وحدت او د مرکز مقام ئې نشته

چې څلور ټکړې شول "خان لالا" فرمائی
"پښتانۀ په دنیا شته خو قام ئې نشته"

PUKHTO.NET
پښتو کتابتون

غیر اولس پکښې رنګ رنګ فرقې پیدا کړې
مومنان دي مګر یو اسلام ئې نشته

د خطا سزا غریب مُومی قانون دے
خو کۀ اوکړی کارنامه انعام ئې نشته

روغآنیه ددې قام کۀ داسې حال وی
ورکېدونکے دے څۀ ښۀ انجام ئې نشته

۲ ستمبر ۲۰۰۷ء

درُوند پښتون مشر محمد افضل خان لالا د رشخېله سوات

○

ترقي نشته خوپه نوم ئې خوشحالېږمه زۀ
د عجیبه خوشحالۍ دور دے پۀ ما راغلے

زړۀ مې د هغه کوربنو غوندې خوشحاله دے نن
چې تختېدلے ئې واپس وی کور ته بیا راغلے

15/4/2003

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

○

هوښیاران بولي ورزش د ژوندون برخه
کړی ورزش کۀ موسم ښۀ وی کۀ جېاړ وی

څوک چې زغل کړی مرضونه تړېنه زغلي
چې ولاړ وی هر مرض ورته ولاړ وی

10/9/2003

○

دې کندړ کندړ وطن له، معماران لۀ خدایه غواړم
دې ټکړې ټکړې اولس له، مُصلحان لۀ خدایه غواړم

چې دوزخ له لته ورکړی، ټول هیواد جنت جنت کړی
د شدّاد غوندې باذوقه، مشران لۀ خدایه غواړم

1/10/2003

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

○

خبر نۀ یم چې صبا به مې څۀ حال وی
چې مې نن ذلیله ژوند دے د احتیاط

ډېر مشکل پورې واتۀ دی خدائې دې خیر کړی
راته پروت دے معاشی پلِ صراط

29/10/2003

○

عیش کوه مستی کوه خُمار کوه
ژوند دے، هسې مه کښېنه څۀ کار کوه
مړ نه شې پتنګ غوندې په پټه خولۀ
مینه شور، مستی غواړی چغار کوه
مه غواړه مېوه دَ محنت لاس په لاس
هرې نتیجې ته انتظار کوه
دلته دوستی شته خو دښمنی هم شته
چاته خنډ د لار شه چاته لار کوه
زده راته لا نه دے د جنت رواج
مرګه! تادی مه کوه لږ وار کوه
ښکلیه! کۀ مې وژنې د نظر په تېغ
ښکته ښکته مه ګوره ګزار کوه

مینه کۀ کوې د روغانی سره
ژوند بې اعتباره دے تلوار کوه

۳۰ نومبر ۱۹۹۹ء

PUKHTO.NET

○

هر څومره کۀ پۀ یو قدم تر عرشه پورې رسی
مرام به څۀ حاصل کړی چې مرام نۀ پېژنی

د غېر د فرېب ډک احسان ئې پَړے شی د غاړې
چې دام کښې دانه پېژنی خو دام نۀ پېژنی

5/5/2002

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

○

فرقې فرقې یُو د یَو بل وینو ته تږی ناست یُو
ذلیل خو یُو خو تباهی اوس یقینی ده زمونږ

خدائې او رسول وائی چې یو شئ خو مونږ نۀ یَو کیږو
مسلمانان یُو خو بس دغه بې دینی ده زمونږ

5/12/2002

○

دا دَ چا تدبیر دے چې ربړه ده په دې سیمه
ښخه د ظالم تبرۀ چړه ده پدې سیمه

اوښکې د کشمیر، کابل، بغداد او فلسطین شته
دا ګمان به نه کړې چې سوکړه ده پدې سیمه

یو خوا ته کۀ مینه پدې سیمه د یورپ ده
بل خوا امریکه خو سمه مړه ده پدې سیمه

هره دَ اغیار لوبه پدې سیمه ګرمیږی
هره د اغیار ګولۍ سَړه ده پدې سیمه

ډېر انتظار پاتې د قرار دے روغانیه
لا خو د شعور غوټۍ وَړه ده پدې سیمه

۹ فروری ۲۰۰۲ء

PUKHTO.NET

○

دا مینه ده چې وینه څوک بخشش کړی حاجتمند ته
د مینی خپلوَلی شی هم د وینې خپلوَلی

رشتې پېدا کول خو د ژوندو خلقو روزګار دے
چا کله پېدا کړې ده په مړینې خپلوَلی

18/12/2003

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

○

مونږ جنتیان وو خو افسوس کۀ د ضمیر د لوری
مونږ ته زمونږ هره ګناه خطا معافه نه وے

زمونږه بل یو عدالت ته ضرورت د څۀ وۀ
زمونږ دننه عدالت کۀ بې انصافه نه وے

25/2/2004

○

قدم چې پورته کړی په تلو شي خلک
منزل ته خود په رسېدو شي خلک

د کُوز نه کُوز مقام شي ځائې د هغوی
چې د اُوبو غوندې بې پښو شي خلک

پاتې د غېرو شي په رحم و کرم
چې په خپل مينځ کښې بې پښتو شي خلک

چې سَره کښېني په ورورۍ اتفاق
په خپلو پښو د اودرېدو شي خلک

آګاه چې ځان د ژوند په قدر نه کړی
د خپله لاسه په سلګو شي خلک

محفوظ به نه شي بې له علم و هُنر
کۀ په مثال د منزرو شي خلک

۲۰ فروری ۲۰۰۱ء

PUKHTO.NET
پښتو دابه نیټ

○

چې ئې بدل نه کړلې، دا به کتاب نه وی
چې مطمئن ئې نه کړې، دا به جواب نه وی

خپل یو اثر لری څیز خو چې خالص وی کله
شېخه! کۀ ګډ ئې نه کړې، دا به شراب نه وی

28/3/2004

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

○

ذاکرین به څان ته وائی، خو چې وخت د انصاف راشی
د ''زما زما'' نه غیر ئې، پۀ خولۀ بل څۀ ذکر نه وی

دین ایمان ته چې ئې ګورم، نو والله د خندا شین شم
چې خبره د پیسې شی، بیا ئې دین ته فکر نه وی

18/4/2004

○

دلته چې یَو اوژاړی بل اوخاندی
شپه چې اوښکې توئې کړی نو ګل اوخاندی

دا څهٔ عجیبه ده د دنیا فضا
لُوټ چې د چا کور کړی نو غل اوخاندی

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

دا ده د ملنډو خوایخې دنیا
یو چې شرمنده شی نو سل اوخاندی

ډېرو له ویستلې توبې ماتې کړی
ښکلی چې په ډول په چل اوخاندی

یو انسانیت او دا نسلی فساد
خوار چې پښتانهٔ شی مغل اوخاندی

پوهه شه د چا ئې اوربدلی دی
یار چې د معمول نه بدل اوخاندی

دا ئې جوړ له شمعې چل زده کړے دے
وروستو په ژړا شی اول اوخاندی

سترګې چې ئې توئې کړی د چا غم کښې نم
ذهن د شاعر کښې غزل اوخاندی

PUKHTO.NET
پښتو ادب ژوند

ځومره په برق برق د روغانی په حال
اَوړی چې پیالې ته بوتل اوخاندی

۲ اپریل ۲۰۰۱ء

○

روایات ئې پرده دار دی، پرده ورو ورو اوچتیږی
اوس لغړ ګرځېدل غواړی خو د یو بل نه ویریږی

یم حیران چې کوم فطرت وه، جامه دۀ ته اغوستلې
کوم فطرت نن د انسان دے چې لباس کښې خفۀ کیږی

14/5/2008

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

○

نمر راخیژی او پرېووزی، مونږ ته ښائی
راز زمونږ د پېدائش او د وفات

پۀ غرض د اطمینان خلقو جوړ کړی
مېخانه ده، بت خانه ده کۀ جومات

5/8/2008

# خاوره

څو موتی خاوره ده زما خاوره
اول بې روحه اوس د سا خاوره

دغه محفل ګوره د رقص وسرود
تماشه خاوره کړې ګدا خاوره

د یوې زمکې دا یوه خاوره ده
ده د مجنون که د لیلی خاوره

بیا څۀ زما او څۀ لا ستا خاوره ده
بیا څۀ لا پاکه او څۀ سخا خاوره

څۀ د اصیل څۀ د کم اصل خاوره
یا څۀ د شاه څۀ د ګدا خاوره

څۀ جدائي، کرکه او څۀ امتیاز
څۀ به د خاورې شی جدا خاوره

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

دَغه دی خاوره کښېږي د ژوند رنګونه
څۀ په ژړا څۀ په خندا خاوره

څۀ د اغیار او څۀ د یار خاوره شی
څۀ د وفا څۀ د جفا خاوره

څۀ د بد خواه څۀ د خیرخواه خاوره شی
څۀ شی خبرې او څۀ دعا خاوره

څۀ شی بې دینه څۀ دینداره خاوره
څۀ د زندیق څۀ د پارسا خاوره

آقا غلام او څۀ نسلی خبرې
په څو څو رنګه اوړی دا خاوره

د موتېي خاورې نه پرون وومه جوړ
ژوندے انسان وومه نن بیا خاوره

۱۴ اپریل ۲۰۰۱ء

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

پهٔ خفهٔ او سترِي ژوند وروستو خبر شوم
چې دا بد حالت پهٔ ما د خدائې احسان شو،

دِ ژور احساس سره ئې يو درد راکړو
داسې درد چې دردېدونکو له درمان شو

10/7/2008

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

داسې جنګ دے فرض شوے، ددې سيمې پدې خلقو
چې کول ئې لږ فساد دے، نهٔ کول ئې ډېر فساد دے

حالات داسې عجيبه دي، چې هيڅوک پرې نهٔ پوهيږي
څوک چې جنګ کوي برباد دے، چې جنګ نهٔ کوي برباد دے

11/7/2008

○

يو د هَوس په اس سوارهٔ يُو خو په پټه پټه
بل د حَسد په اور سکارهٔ يُو خو په پټه پټه

په خولهٔ خو يو يُو خو په زړونو کښې جدا جدا يُو
ښهٔ مثالي خوارهٔ وارهٔ يُو خو په پټه پټه

د نوم د پاره تش په نوم حقير زکوٰة ورکوو
داسې اکثر روژه خوارهٔ يُو خو په پټه پټه

داسې بيمار يُو چې پرهېز مو د حلالو نه دے
مونږ سراسر حرام خوارهٔ يُو خو په پټه پټه

زېلې د ورور او ګاونډي رېبُو چې مخکښې نه شي
بل ته په مثل د لارهٔ يُو خو په پټه پټه

کوږ د مینې، همدردۍ او خبر خواهۍ خبرې
نور کوراکور سړي خوارهٔ یُو خو په پټه پټه

څغې دَ امن وهُو خبر په بې امنۍ کښې کورُو
خوښ د رڼا نه په تیارهٔ یُو خو په پټه پټه

چې ئې خشاک وي روغانیه مینه، عدل، وحدت
خوښ پدې هسې تنارهٔ یُو خو په پټه پټه

۵نومبر ۲۰۰۱ء

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

○

پهٔ کائنات کښې هیڅ وجود د خیر او شر نشته دے
شعور چې راغلو نې وجود د خیر او شر پېدا کړو

د حقیقي وجود سره وو موجودات د عالم
ځکه خو ژوند خان له پهٔ سترګو کښې نظر پېدا کړو

12/7/2008

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

○

چې پهٔ کثرت دې ایمان راوړو نو وحدت دې څهٔ کړو
کثرت چې خدائې شو نو د خدائې خالقیت دې څهٔ کړو

چې خپل شعور درته تمیز د خیر او شر درکړے
بیا د نېکۍ او د بدۍ موجودیت دې څهٔ کړو

12/7/2008

○

د ستېک سره سندان ته ضرورت وی
د هر تیر سره کمان ته ضرورت وی
امن هله برقرار وی چې وی امن
د ځان هم ګورے خپل ځان ته ضرورت وی
پیغمبر به هم ساتله تُوره زغره
د ایمان سره سامان ته ضرورت وی
پیژندل د ښو او بدو په یو بل دی
د آدم سره شیطان ته ضرورت وی
د نېکۍ سره مضر اثرات هم وی
دې کښې هم د زړۀ دیدوان ته ضرورت وی
دا دنیا تش په اُمید ودانه نه ده
د اُمید سره ارمان ته ضرورت وی

فن زرخیز شی چې حال ښۀ وی روغانیه
تل د شمعې شمعدان ته ضرورت وی

۲۵ نومبر ۲۰۰۱ء

PUKHTO.NET

○

چې ژوندی ځیزونه وژني څۀ دې حق دے
چې دا حق نۀ لرې بیا پۀ څۀ ئې وژني

هر زنده وژل له حق روګردانی ده
خدائې ئې څله زیګوی چې تۀ ئې وژني

13/7/2008

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

○

چې پۀ کوم ځائې کښې د مچ د ژوند سامان وی
پدې پوهه شه چې هلته به مچان وی

چې د مچ د ژوند سامان کوم ځائې کښې نۀ وی
شوه معلومه چې به هلته انسانان وی

14/7/2008

○

زۀ چې نېکي کووم بدي رارسي
ګیله مې نشته په تندي رارسي

د خپلو کار خو وي پېغور مسخرې
اکثر په سخته کښې پردي رارسي

PUKHTO.NET

خوشحالي سُسته ده راتللے نه شي
غمونه چُست دي ګړندي رارسي

ښکاره کړو سر د ایټم بم خطرو
ژوندي به نه وي چې مهدي رارسي

روغانے نه ژاړم ګناه او ثواب
زما قسمت کښې چې څۀ دي رارسي

۷ دسمبر ۲۰۰۱ء

○

دا سپک ځان مې په غرور دومره وزنی کړو
چې د ډېر دروندوالی بښخ شومه فنا شوم

چې په فقر مې خپل ځان لکه بنه کړو
د هوا په اُوږو سور شومه بالا شوم

18/7/2008

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

○

چې پکښې نشته دے اصول او ترتیب
ځکه خپل کور راته زندان جوړ شو

د کور هر تن ورته خپل کور نهٔ وائی
زما د کوره پاکستان جوړ شو

20/7/2008

○

داښې وخت به راشی چې د خال قیصه به ختمه وی
زلفې به آزادې وی د شال قیصه به ختمه وی
مینه به بې باکه شی کره به شی خوره به شی
دا د مینتونو او د سوال قیصه به ختمه وی
عشق به دا د رسم زولنۍ پخپله ماتې کړی
دغه د بلۍ او د دېوال قیصه به ختمه وی
بس یوه ډالۍ به وی د مینې ډک یو شوخ نظر
نور د لاس د نخښو د رومال قیصه به ختمه وی
پاڼو د کتاب کښې د نازکو خندنو سترګو
ټوله د ثواب او د وبال قیصه به ختمه وی
ورک به تصور وی د رقیب په مئینانو کښې
داسې د ریبار او د دلال قیصه به ختمه وی

ډک د سوز غزل د روغانی به بې اثره وی
ځکه چې د هجر د وصال قیصه به ختمه وی

۸ جنوری ۲۰۰۲ء

○

ژبه څۀ ده خو د خیال اظهار پرې اوشي
بیا دا ولې دې سبب د بیلېدو شي

انګریزی ده کۀ فارسی کۀ نورې ژبې
چې مې ذهن ته را اورسي پښتو شي

19/8/2008

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

○

یو قیامت دے پۀ هر کلی پۀ هر ښار کښې
دے وطن د مفلسانو پۀ آزار کښې

دا جېکټ د خودکُشۍ مې نۀ دے څۀ دے
چې خالی جیبونه ګرځم پۀ بازار کښې

18/8/2008

○

اووهه رباب چې زړهٔ کنبني اوژاړي نغمې د عشق
واړوه راواړوه سازونو کنبني قصې د عشق
دا د زور رواج دوره د ښکلي مخ نه اوښنده
اوشینده را اوشینده په سیمه کنبني ورمې د عشق
نوې زمانه شوه پکنبي هر څهٔ نوی نوی دی
نوے نوے رنګ لری دا نوې افسانې د عشق
خپله بندیوانه مستي نوره بند کنبې مه ساته
تورې تمبې بیرته کړه برخیره کړه لمبې د عشق
خولهٔ چې دې څهٔ غواړي په ښکاره ئې په خولهٔ اووایه
سترګو شرمګیرو کنبني دې بلې کړه ډیوې د عشق
تاته خو منصور په سر د دار داسې وئیلي وو
څهٔ به افسانه شي چې رازونه پټوې د عشق

غواړي روغانیه ښهٔ په ډاګه د اقرار چغې
نن د خاموشۍ په ژبه نه ښائي تپې د عشق

۱۰ جنوري ۲۰۰۲ء

○

چې پَدې دَوَر ځان له خپل ګورې
دا دَ اِنځر وَنه کښې ګل ګورې

په هغه لار کښې به دې لُوټ کړی هغه
تهٔ چې د کومې لارې مل ګورې

دلته کهٔ حُسن سره مينه کوې
بې وخته ځان له خپل اجل ګورې

تنها په خپل تن کښې مشغول اوسېږه
د خپلې خوبنې کهٔ محفل ګورې

خاکسار به خاورو کښې وی ناست درسره
متکبر له به بخمل ګورې

ستُونزې د وخت څهٔ د شمارلو نه دی
آخر چې کومې له به حل ګورې

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

بې سفارشه حق ګټلے نه شي
په يَو ظالم پَسې به سل ګورې

ځان ترې ساته نُور پرې غرض مه کوه
په کوم يو يګ پسې به شل(!) ګورې

چې بد انجام ته رسېدلی دی پرې
تګ له د هغه خلقو پل ګورې

کۀ خپله رائې په پېسو خرڅوې
د خپله لاسه کور له غل ګورې

لافې ښۀ نه دی خو بيا هم کۀ کوې
خپل حيثيت ته به اول ګورې

(!) شل دَ قديم دَور يو قسم وسله وه۔

PUKHTO.NET

○

دا زمونږ ګوتې يو بل ته پۀ ماشه دی
د دنيا خلق زمونږ پۀ تماشه دی

نرم لاس د محبت، د مينې غېږې
هغه غېږې، لاس مو نن لاشه لاشه دی

○

زۀ ستا دوست يم خو د ظلم يار دې نۀ يم
يار دې يمه خو د لاس هتيار دې نۀ يم

يو د خېر او بل د شر د پاره جوړ وی
د خېر يمه خو د شر اوزار دې نۀ يم

12/9/2008

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

(۱)

اثر د مینې چې بلبل ته لګی
دا اندازه ئې تروله ګل ته لګی

دغه يو نمر دے په شريکه زمونږ
چې په چا هلته په چا دلته لګی

تش د نفرت محل د پاتې نه دے
اور د بدلون به دې محل ته لګی

خدائې دې د وهم د مرض نه ساته
دا بیماری د يو نه بل ته لګی

شیخه ! د خولې خبرې نه دی ګورے
د ايمان، پته به دې هلته لګی

د روغانی په ږیره مه شئ خلقه
اکثر چې اور لګی ځنګل ته لګی

۱۸ دسمبر ۲۰۰۱ء

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

○

بدی موجوده وه چې زهٔ راغلم
نېکی مفقوده وه چې زهٔ راغلم

دنيا پردۍ وه او زما د پاره
ښېخی بې سوده وه چې زهٔ راغلم

هستی مې وه زما په حال شاهده
نېستی مشهوده وه چې زهٔ راغلم

لاړم ترې زر فضا زما د پاره
زهر آلوده وه چې زهٔ راغلم

11/9/2008

PUKHTO.NET
پښتو کتاب نیټ

○

څوک د جاکټ څوک د واسکټ غلۀ دي
څوک د کرسۍ او څوک د کټ غلۀ دي
جدا طبقې دي د غلا رنګ ئې جدا
څوک د ډيوې څوک د ډيوټ غلۀ دي
دغه سپين پوشه، مهذب او خوانده
دوی داسې غلۀ دي څنګ چې جټ غلۀ دي
د هر چا کفر وی د توانه پورې
واړۀ، واړۀ غلۀ دي غټ، غټ غلۀ دي
د غلا مرکز دے هر دفتر اداره
په دې وطن کښې ګوټ په ګوټ غلۀ دي
په ديندارۍ باندې ئې مه تېرووزۀ
ښکاره صوفيان دي مګر پټ غلۀ دي

اے روغانيه شمار ئې څله کوې
ددې وطن دا خلق چټ غلۀ دي

۱۰ فروری ۲۰۰۲ء

PUKHTO.NET
پښتو کتاب ويب

○

چې د شعر ژبه نهٔ پېژنی څهٔ دے
زهٔ خو ویم پهٔ خناورو کښې لېوهٔ دے

هر بې ذوقه کهٔ ژوندے دے ژوندے نهٔ دے
یا بې هوشه یا خو مړ دے یا اُودهٔ دے

12/9/2008

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

○

زهٔ ددې باغیچې ګل یم، پدې راز باندې پوهېږم
تر څو ورځو به تازه یم، پهٔآخر کښې به رېژېږم

دَ خزان نه پس بهار شی، مړهٔ ګلونه راژوندی شی
زهٔ ددې باغیچې ګل یم، زهٔ به هم راژوندے کېږم

7/11/2008

# دُعا

خدایه ته اوبخښې دا بعضې ښکلې ښکلې خلق
دا مزدوران او خوارې کښ کلې په کلې خلق

ټول فنکاران، مصوران او رقاصان اوبخښې
ورسره ټول د موسیقۍ سره تړلې خلق

په ژوند خوشحاله کړې هغه چې څوک په ژوند خفه دي
اوبخښې پاتې د انصاف په ارمان تلې خلق

د زر پرستو د فتنو نه ئې نور خلاص کړې ربه
دا د وطن افلاس وهلې غمزپلې خلق

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

کۀ رشوتیان کۀ قوم خواۀ دی او کۀ نور ظالمان
د جهنم اور ته ګزار کړې دا لړلی خلق

هر آدم خور سیاستدان په تندر سوړ کړې ربه
ورسره نور داسې حرامو پړسولی خلق

د روایاتو په دین خلق په تیارو کښې ساتی
تباه کړې ربه دا وړناری شرمېدلی خلق

ما روغانی ته هدایت خدایه د نیکې اوکړې
اوبخښې ما او داسې نور مینه پاللی خلق

یکم اپریل ۲۰۰۲ء

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

○

ژونده ! ته خو رانه تښتې، خو ما ته ئې رانیولے
چې تر څو پورې مې توان وی رانه نهٔ شې خلاصېدلے

دَ حالاتو سترګې سرې دی، مٰعاشی قتل مې غواړی
آخر تا به رانه خلاص کړی، زهٔ به شم د خاورو څلے

19/11/2008

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

○

یمه پهٔ خیال کښې یوې خوشې مقبرې له تلے
پهٔ مقبره کښې د یو قبر خوا کښې ناست یمه زهٔ

د تصور پهٔ غوږو اورمه د مړی فریاد
محل مې کوم ځائې وځوړ کړےکوم ځائې ملاست یمه زهٔ

○

چې منع نه شي مېخانې نه د مَولې په وينا
منع به څنګ شي د ناصح غوندې اشنا په وينا

صوفي د قُل قُل آواز اَورې نور پرې نه پوهيږي
دا خو رندان دي چې پوهيږي د مينا په وينا

دغه دے مونځ چې ورله پاځم د ايمان په آذان
دا وي څۀ مونځ چې شي ادا د مولينا په وينا

وي مئينان د خپلو خپلو معشوقو تابعدار
فرهاد به غرۀ له لاس ور نه وړې د ليلى په وينا

غټان چې وائې هغه کله شي خواران وئيلے
خواران سزا خوري د غټانو د وينا په وينا

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

رسی مرام ته هغه څوک چې د بینا سره ځی
رغړی هغه چې کوی تګ د نابینا په وینا

دا خو د خوارو دردېدلو داستانونه وائ
مُولا تراوسه پوهه نه دے د سُرنا په وینا

اے روغانیه ! څو زده نه کړې د رنګونو ژبه
پوهه به نه شې د کاجل او د حنا په وینا

10/3/2002

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

○

چې د خولې نه غابښ د سترګو نه نظر ځي
لکه خوار مزدور د کوره په سفر ځي
داسې مه وايه چې شپه شوه تاريکي شوه
دا به هم ځي لکه څنګه چې سحر ځي
چې ما اووينې ډېر کم خلق پوهيږي
چې ژوندو کښې مړي هم ګرځي راګرځي
د اوبو په ويخ کښې اوسي کاڼي درووند وي
چې د سپکو سره اونخلي په سر ځي
کۀ اوږده خوشحالي غواړې تادې مه کړه
هر يو شے چې ځومره زر راشي نو زر ځي
کله کله وصال هجر داسې يو شي
لکه پېغله د پلار کور ته په اختر ځي

دوه ياران چې خولۀ په خولۀ شي روغانيه
شېخ د خوا نه ئې په اللهُ اکبر ځي

9/4/2002

PUKHTO.NET
پښتو دات نيټ

○

هر سړے زړهٔ سترے د کلتُوره دے
څهٔ اوکړی بیا هم پدې مجبوره دے
شی به په ډېر ذکر انتظار کښې مړ
شېخ ژوندے په حوره مړ په حوره دے
شوندې خرما رنګې، انګوری سترګې
چا چې دا لرلې دی مغروره دے
دین پرېښو دے کیږی، نه چې خپل رواج
چا ته کهٔ منظور کهٔ نامنظوره دے
دلته کهٔ باغی دے کهٔ بې وسه دے
خلق وائی دغه بې دستوره دے
دلته د مڼنو سزا قتل وی
دلته غوږ د مینې سر په تُوره دے

نور به روغانی ته انکار نه کووم
مخ د بنیادم د خدائې د نُوره دے

2002ء

PUKHTO.NET

○

بې روح جهان کښې د خالق کۀ ښائستونه شته دے
ژوندو کښې هم د مينې رنګ کښې نعمتونه شته دے

سوی دی ټول خو څنې ځان سره نور هم سوزوی
د پتنګ، شمعې دواړو بيل بيل مثالونه شته دے

تش خو ګلزار نه دے وطن د سرو ازغو ګلونو
په انسانی دنيا کښې هم ازغی ګلونه شته دے

جنت دوزخ د آخرت سره تړلی نه دی
دُنيا کښې هم ډېر دوزخونه جنتونه شته دے

دا خو شعور مو شل او ګوډ دے چې وروستی پاتې يُو
ګنې د نورو شان زمونږ هم پښې لاسونه شته دے

يوه ښادۍ کښې د هزار مېلمنو غم شی په مونږ
دغسې نور ډېر د ښادۍ په رنګ غمونه شته دے

د امتياز کاتۀ کوی د امتياز اورېدۀ
د بعضې غټو داسې سترګې او غوږونه شته دے

۱۰ جون ۲۰۰۲ء

PUKHTO.NET

○

خزان، اوړے، بهار، ژمے هر موسم د خدائې نعمت دے
خو یو شرط پکښې دولت دے ګڼې هر یو مصیبت دے
کۀ بغیر د ښۀ صحت نه څۀ مزه د دولت نه وی
خو د ښۀ صحت مزو له لازم هم ګورے دولت دے
کۀ نظر شې زغلولے د شرطونو په دنیا کښې
دا به اومنې چې دلته حاصل شرط ته اهمیّت دے
تۀ ترې هر څۀ جوړوے شې، پکښې شرط ستا اراده ده
دا دنیا په حقیقت کښې نه دوزخ دے نه جنت دے
نه خو علم لوې دولت دے نه دولت د فائدې خیز دے
تعمیری مقصد د دواړو دے دولت دا حقیقت دے
د قیامت ورځ یوه نه ده، نه ئې ورځ، مقام معدوم دی
بس چې کوم ځائې جهالت دے، هلته هره ورځ قیامت دے

په یواځې به څۀ اوکړې، خدائې خو نه ئې روغانیه
د مزو د ژوند د پاره، بس یو شرط دے چې وحدت دے

۸ جون ۲۰۰۲ء

○

مئینان څۀ کړی د مالی ګلونه
چې په ګودر شته بې سپرلی ګلونه

چې پښه دننه کړی په باغ د ګلو
ازغی ئې جوړ کړی په تلی ګلونه

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

بلبل لمبه، بورا کړی تور د غمه
ساتی تل داسې خپلولی ګلونه

ګلونه غواړی د ګملې غوندې زړۀ
څوک چې دا نه لری بائیلی ګلونه

خوارۀ خوبونه به دې اوتختوی
دا د جونګړو بخملی ګلونه

تنده، غارمه، ځۀ د ماليار بې رُخې
آخر په ځۀ اوکړې سيالي ګلونه

جُونه ليدے شي نن بې شنو لوپټو
لکه د پانړو نه خالي ګلونه

د ګلو نوره بې قدري به ځۀ وې
څوک چې د سرو سره تلي ګلونه

زما په برخه رسيدلي چې دي
ځۀ د کاغذ دي ځۀ خيالي ګلونه

راځې ضرور په روغاني بناپيرې
چې کله اوکړې کشمالي ګلونه

۱۳ جون ۲۰۰۲ء

PUKHTO.NET
پښتو دا تپ نېټ

○

خان به نیک بنده کړمه
زیره به اوږده کړمه

دا به کړ په شړه کړم
بل له چې ښیګړه کړم

PUKHTO.NET

ښکار به د انسان کووم
کار به په دکان کووم

زهٔ به تسپې اړووم
خلق به را اړووم

۶ جون ۲۰۰۲ء

○

د مړ هندو مذهبي رسم له لړګی ډېر دی
پدې وطن کښې خړګی ډېر دی تبرګی ډېر دی

وسائل ټول د ژوندانۀ شته خو نیشت کړی دی چا
ددې په ځائې ضرورتونه د مرګی ډېر دی

غصب، ډاکه، فریب، ټګی خو څۀ خبره نه ده
چې د سامراج ښکلی سپین پوشه ګوډاګی ډېر دی

یمه هوښیار نه خورم بار بار په یَو موګی ټکرې
دا چې بار بار ټکرې خورمه دا موګی ډېر دی

مونږ به څنګ ځوک د نظره کړی څۀ ګپ خو نه دے
زمونږ جونګړو کښې خزلې او لوګی ډېر دی

PUKHTOONET

اُوبه خوري قوم په سیاست او قومیت، امامت
دې معصوم رنګه خونخوارۍ له پرتوګی ډېر دی

ډلې پرې دی،شته فرقې او د رنګ نسل قیصې
پدې بې سره علاقه کښې سرخوګی ډېر دی

غیر د څرمنې نه برګے د ایمانونو هم شته
د ننګ غیرت هم شته، قسمونه د برګی ډېر دی

ګورے د کوم غرض په جوش کښې روغانیه دے نن
د مقرر صاحب په خولهٔ چې زګزګی ډېر دی

۱۶ اکتوبر ۲۰۰۲ء

PUKHTO.NET

○

مخ د زاهد ګوره خفګان پرې نشته
د غم او فکر څۀ نښان پرې نشته

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

غم چې شريک شي نو غم پاتې نه شي
ورک دې ملنګ شي چې تاوان پرې نشته

راشه لږ داسې زړونه هم اوګوره
بې له خوراکه بل ارمان پرې نشته

څله زاريږې له بې حسه صنم
د ګټې بت دے څۀ احسان پرې نشته

ډېر کفار شته چې دي پابندد اسلام
خو صرف نوم د مسلمان پرې نشته

کلونه مړاوي دي دوخت په جبر
ډوډې پرې شته دےبوزاګان پرې نشته

د غم دوا شته د قرآن په شکل
مصيبت دادے چې ايمان پرې نشته

اکثر د مخ په زمکه اوښکې اوري
مخ د سپوږمۍ دے چې باران پرې نشته

د روغاني واوري مُلا له مه خئ
اثر د مينې دے پېريان پرې نشته

۱۶ اکتوبر ۲۰۰۲ء

PUKHTO.NET

○

يم غم سره بلد په خوشحالۍ لېونے کېږم
دا څکه خو د مېو په پيالۍ لېونے کېږم
سم دم يم چې بې ګله د ګل بوټو ته په څير يم
خو هر کله چې اوسپړی کلۍ لېونے کېږم
بنۀ روغ يم چې تنها يم او خاموشه خاموشي وی
محفل کښې په رباب او په شپېلۍ لېونے کېږم
چې زلفې جوړې نه وی نو زۀ جوړ يم زړۀ مې جوړ وی
چې جوړې شی او اُووهی تالۍ لېونے کېږم
مجلس چې د رندانو وی يو شور يوه غوغا وی
پېداسې بې ترتيبه قوالۍ لېونے کېږم
سپوږمۍ د ځوارلسمې يا سپوږمۍ ځوارلس کلنه
په خپلو کښې د دوارو په سيالۍ لېونے کېږم

کۀ سل جنازې لاړې شی هيڅ نه وی روغانيه
خو تېره چې مې خوا کښې شی ډولۍ لېونے کېږم

۶ نومبر ۲۰۰۲ء

PUKHTO.NET پښتو ډاټ نېټ

○

ډېر ساعت اخلمه په شرنګ ترې نهٔ ځم
لکه اوږده نشه د بنګ ترې نهٔ ځم
څو چې مې ځان پرې ستی کړے نه وی
هسې واپس لکه پتنګ ترې نهٔ ځم
دیدن ئې خامخا کووم په کوڅه
یو بې نوا غوندې ملنګ ترې نهٔ ځم
ورسره جنګ اوکړم په تېرو قیصو
بیا هم چې ځمه نو په جنګ ترې نهٔ ځم
د ادم خان، مجنون، فرهاد په دعا
ډېر څهٔ ترې واخلمه لفنګ ترې نهٔ ځم
زما د هیچا نه نفرت نشته دے
کهٔ دشمن هم راشی په څنګ ترې نهٔ ځم

زار روغانیه شه د ښکلو خلقو
عزت مې ډېر اوکړی بدرنګ ترې نهٔ ځم

۱۰ اکتوبر ۲۰۰۲ء

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

○

الله دې نه کړي له دنيا چې بې ايمان لاړ شي
آدم زاد راغلې داسې نه چرته شېطان لاړ شي

کله چې ته راغلې ستا هيڅ مورنۍ ژبه نه وه
بيرته چې ځې نو چې عرب او نه افغان لاړ شي

پيدا له خاورو نه انسان ئې نو انصاف خو داد ے
چې بيا واپس خاورو له ځې نو چې انسان لاړ شي

مرې خو به مرې خو مړ شه پاک لکه چې پاک وې پيدا
ځې خو به ځې خو چې د بنو خلقو په شان لاړ شي

ځان په اخلاص کۀ چرې مور کړې د ايمان په غذا
هرې کشتۍ له به تکړه او پهلوان لاړ شي

د خپل انجام او حقیقت نه ناخبره واوره
زمکه دې ځائې دے په غرور کۀ تر اسمان لاړ شې

د رهنما په قدم څه چې دې منزل شی نصیب
په ځان به ورانه کړې اشنا کۀ چرې وران لاړ شې

پېدا کۀ مرد ئې نو مرد ستون شه او کۀ زن ئې نو زن
ګنې نو هسې به بې نوم او بې نشان لاړ شې

داسې مړ نه شې چې په مرګ دې شی خوشحاله خلق
خو داسې مړ شه چې د اوښکو په باران لاړ شې

د ژوند مقصد به روغانیه ! کړې تر لاسه آخر
خو شرط ئې دادے کۀ په لاره د قرآن لاړ شې

۱۵ ستمبر ۲۰۰۲ء

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

○

کۀ د ظلم زخم شته خو ټکور هم شته
کۀ دښمن شته خو دوست هم شته دے ورور هم شته

په دانش چې کړی د جبر مانې ورانې
خوار اولس کښې داسې مړی د ګور هم شته

PUKHTOONET
پښتو ډاټ نیټ

د مظلوم د خاموشۍ نه او ویرېږه
خاموش بم دے پکښې زور شته او شور هم شته

دومره ګوره چې په چا پسې روان ئې
پېشوایانو کښې روغ هم شته شمکور هم شته

پښتونخوا کښې د پښتو پل صراط دے
پام کوه ګورے تور هم شته پېغور هم شته

په غرور کښېږي داسې مه وایه چې زهٔ یم
په دنیا کهٔ نظر واچوې نور هم شته

په سپین والي فخر مه کړئ ملغلرو
په نایابه جواهرو کښې تور هم شته

یم خاکسار خو د چا جبر وړلے نه شم
یمه خاورې خو په خاورو کښې اور هم شته

کهٔ د حسن مئ، مینا پیالې بېسیار دي
روغانې غوندې لېواله مېخور هم شته

۸ جنوری ۲۰۰۳ء

PUKHTO.NET
پښتو ملتیا

○

د مینې دولتونه د احسان نه شورو کیږی
کۀ غوارې نو دا کار اول د ځان نه شورو کیږی

د شر، فساد بلا ده کۀ د خیر امن قلا ده
ددې دواړو سرَونه د انسان نه شورو کیږی

تعمیر دے د اخلاقو کۀ تخریب دے د اخلاقو
دا یَو د پیغمبر بل د شیطان نه شورو کیږی

دا وَلې مو پښتو کړه د حسد دښمنئ نخښه
زمونږ ټپې خو تل د یا قربان نه شورو کیږی

کۀ پوهه شوې په خپل غلام ژوندون نو دا به وائې
زمونږ حقیقی ژوند د قبرستان نه شورو کیږی

د دین مقصد وحدت د عالمګیر انسانیت وی
فرقې، ډلې، پرې د مُلاجان نه شورو کیږی

د ژوند هره لمحه یو امتحان دے روغانیه
ښې بدې نتیجې د امتحان نه شورو کیږی

۱۲ جولائی ۲۰۰۵ء

PUKHTO.NET

○

زهٔ د وخت تېرهٔ خنجر باندې ولاړ يم
ځان ساتمه په هنر باندې ولاړ يم

نه مې ژوند کښې څهٔ خوند شته دے نه مرګ غواړم
زهٔ پداسې يو ډګر باندې ولاړ يم

يم د رسم غوړندی بې دسته کړے
د ځاروی شان په اخور باندې ولاړ يم

پرېواتهٔ مې دی ضرور د پاتې نه يم
د خپل ژوند په ډنګ کمر باندې ولاړ يم

د فنا په طرف تُند ځم لکه ستورے
کهٔ د خلقو په نظر باندې ولاړ يم

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

دَ يَووالی خطبه لولمه دنيا ته
زهٔ د مينې په منبر باندې ولاړ يم

خوارهٔ ويشمه خوخپل ژوندون مې تريخ دے
د ګَنی غوندې په سر باندې ولاړ يم

په وصال مې سترګې برېښنی تن مې سوزی
نمر ته ګورمه په نمر باندې ولاړ يم

حوصله مې د داد وړ ده روغآنيه
د غمونو په يو غر باندې ولاړ يم

۲۳ جنوری ۲۰۰۳ء

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

○

سحره راشه خو د ښکلو ښکلو زېرو سره
نور چې را نه شي د غمونو بلا ډېرو سره

ماته رایاد کړه هغه ښکلې ښکلې تېر وختونه
لږ مې مشغول کړه د وختونو تېرو هېرو سره

ما وې سپرلے به شي تازه ګلان به اووینمه
هسې عبث مې عمر تېر شو د وارتېرو سره

راته رامخکښې کړه قیصې د ماشوموالی زما
هغه چې لوبې به کولې مو د ببرو سره

هېر ئې لا نه دی چې ئې مور لوګے کول به ورته
د روغانی مینه نن هم ده د نمبرو سره

۱۲ فروری ۲۰۰۳ء

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

○

چې برداشت ختم شي د خولې چغې په زوره اوځي
زخم چې غټ شي نو خبره د ټکوره اوځي

هغه هستي د قام ښائست شي چې د قام د پاره
لکه سرۀ زر ښۀ اوټکيږي او د اوره اوځي

شي به سپرلے او سپين صبا د ښاپيرو په وطن
کۀ ترې يو ځل د جهالت دا بلا توره اوځي

دلته نه کور مستقل شته او نه کوربۀ مستقل
روح چې د تن د کوره اوځي تن د کوره اوځي

ژوند د شور نوم دے، خاموشي د مرګ نه بل څۀ نه دي
ژوندے شي شر د خاموشۍ، چې ساه د شوره اوځي

وارخطا نه شې روغانيه! هر څۀ کيږي په وخت
غوټۍ به ګل شي چې موده پرې لږه نوره اوځي

۱۳ فروري ۲۰۰۳ء

PUKHTO.NET
پښتو دلته نېټ

○

چې هر مشر میرصادق شي، او هر مشر میر جعفر شي
قوم پخپله د نمړي شان د دښمن په خوله کښې ورشي

کۀ ئې غرونه شي د زرو، هر معدن د ملغلرو
خو چې قوم ئې بې شعور وي، دا وطن د مچ وزر شي

ترک چې سوچ د ترقۍ کړي، لار اختیار د عیاشۍ کړي
کۀ بچې د پېغمبر وي، د فرعون د ځوی نوکر شي

سائنس هم د ایمان جز دے، بې له دې به فاتح نه شي
اسامه شان کۀ غازي شي، د صدام غوندې کۀ نر شي

څوک چې خپل هر ضرورت له، خپل ایجاد لرې بالا دے
چې د بل په طمع کښیني، غلامي ئې مقدر شي

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

دغه لار ده، یوه مینه بل د خدائې خلقت کښې فکر
چې ددې لارې ځوک واوړی، غلامی ئې مقدر شی

زور مادی کۀ افرادی دے، د نظر زور ته محتاج دے
نابینا به څۀ فاتح شی، کۀ په متو زورور شی

اتفاق چې پکښې نه وی، قوم دوستی نه چې عاری وی
غټ پټکی کۀ ئې په سر وی خو ټاټکی ورته په سر شی

روغانے کوی خبرې، سپینې سپینې پاکې پاکې
چې هوښیار وی سوچ پرې اوکړی چې نادان وی مرور شی

۱۸ اپریل ۲۰۰۳ء

PUKHTO.NET

○

دښمني شته لا په تره او په وراره کښې
دواړه یو بل خوښوي په تناره کښې

چې یو بل له د حیا څادر کړي خیرې
خود به ژمي تېروي په څاداره کښې

سکاره شوي زړونه خلاص نه دي له اوره
ګنجائش د سوزېدو وي په سکاره کښې

چې په جبر د مجبور په سټ سورلي کړي
څه رشته به وي په پلي په سواره کښې

شاه، پېشوا کښې مو بس دغه قدرې فرق دے
لکه فرق وي په آره او په لاره کښې

بد خواهان به دې ورک نه کړي روغانیه!
بل چراغ کله ورکیږي په تیاره کښې

۲۰ اپریل ۲۰۰۳

PUKHTO.NET
پښتو کتاب نېټ

159

ورکه کړه ژړا ساقي! راوله خندا ساقي!
ډکه پیاله را ساقي ! جوړه کړه مستي مستي

دا د دردو غم دنیا، دا سکاره سکاره جهان
دا د ویر ماتم دنیا، دا تیاره تیاره جهان

کړه رڼا رڼا ساقي ! کړه صبا صبا ساقي !
ډکه پیاله را ساقي ! جوړه کړه مستي مستي

دا خفه خفه فضا، دا په زړه پرهر ماحول
زر شه کړه پخلا پخلا، دغه مرور ماحول

راشه په ګډا ساقي ! ښکلے په ادا ساقي !
ډکه پیاله را ساقي ! جوړه کړه مستي مستي

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

نن ښځه په غُرور غرور، خپلې شمعې بلې کړه
خور کړه يو سُرور سرور، ټوله دنيا ښکلې کړه

پرېږده دا دنيا ساقي ! بله کړه پيدا ساقي!
ډکه پياله را ساقي ! جوړه کړه مستي مستي

دا د روغاني اوښکې، وچې کړه په تريخ درياب
ورکړه روماني اوښکې، ژوند ئې کړه شباب شباب

را ئې شه په خوا ساقي ! اے د پښتونخوا ساقي!
ډکه پياله را ساقي ! جوړه کړه مستي مستي

۵ مئ ۲۰۰۳

PUKHTO.NET
پښتو اډبي ټولنه

○

د انسان په ګوتو راغلم، د بلا نه تښتېدم
ناوکۍ لاندې مې شپه شوه، د بارانه تښتېدم

زغل مې تېز وۀ زور مې زیات وۀ، خو دېوال وۀ هره لار کښې
د هغو پنجو کښې ګېر شوم، چې د چا نه تښتېدم

مخامخ جنګ ته زمرے ووم، د سازش نه خبر نه ووم
چې هوښیار شوم بیا د هریو، خرۀ د شا نه تښتېدم

د زاهد په پېروۍ کښې، ووم د حسن دښمن شوے
ما شېطان وئیل ښکلا ته، د جانانه تښتېدم

د خپل ژوند د تحفظ او، خوشحالۍ په تګ و دَو کښې
مرګه ! ستا غېږې له راغلم، زۀ خو ستا نه تښتېدم

ووم سماج لېونے کړے، ماته یاد دی روغانیه !
چې اکثر به آئینه کښې، د خپل ځانه تښتېدم

۲۵ مئ ۲۰۰۳

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

(   )

کۀ باران مو د ګولو په سر وريږي
خو مازغۀ مو نه خبريږي نه پوهيږي

چې احساس ئې د وروري او وحدت مړ شي
هغه خلق په شرمونو اوشرميږي

خود به ژوند وي د شاروو د هغه خلقو
د شاروو شان په ډالرو چې خرخيږي

حيثيت د هغه خلقو به د سپو وي
چې د بل په لمسه سپو غوندې جنګيږي

چا چې يو بل له دې زړونه ايره کړي
کۀ ئې اوګورې ايرې به ترې چنيګي

روغانی نه عقل زده کړه چې عاقل شې
اکثر عقل د کم عقل نه زده کيږي

۳۰ مئ ۲۰۰۳

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

○

کۀ کمزورو پسې اونيول نسکور لاس
خو مات نه شول په خبرو باندې د زور لاس

هغوی هم بريالی نه شُو په مېدان کښې
په دُعا کۀ ورته پورته وو د مور لاس

دا تقدير دے او کۀ نه څۀ بل څۀ راز دے
چې په خپله خاوره نه شُو د چا تور لاس

اشتراک د روح، مادې د ژوند سبب دے
بې عمله د دُعا سوزی په اور لاس

د باتُور هېواد اولس به خود غلام وی
د حکمت نه چې راکښلی وی هر کور لاس

وحدت، علم، هُنر ژوند دے روغآنيه!
دا کليه ده بکښې اونه وهې نور لاس

۲۶ جون ۲۰۰۳ء

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

○

چې اوبۀ نه وي ګلان نه شي کېدے
بې له ګلو ګلستان نه شي کېدے

د يو څيز وجود د بل څيز په وجود دے
چې وريځ نه وي باران نه شي کېدے

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

دا انسان نه وي نو څکه انسان وژني
د انسان دښمن انسان نه شي کېدے

نېکان دا وي چې کردار ئې د نېکۍ وي
خوشګفتار خلق نېکان نه شي کېدے

چې په پونډ او په ډالر باندې خرڅيږي
دا پښتو، غيرت، ايمان نه شي کېدے

د روغانیؔ د شاعرۍ نه مصورته د حالاتو د حقیقي رنګونو احساس کیږي ـ او مصورد دغه حالاتو تصویرونو ته هغه رنګ ورکوي د کوم ادراك چې د عام و خاص سترګي کولے شي۔

مراد آرټسټ مینګوره سوات 28.04.2009




ضیاء سنز پرنٹرز پشاور
0333-9111391